د حمیدي یاد

د مقالو ټولګه

د حمیدي یاد

(د مقالو ټولګه)

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم	::	**د حميدي ياد** (د مقالو ټولګه)
لیکوالان	::	بېلابېل
خپرندوی	::	د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني
چاپ زیار	::	استاد محمد اصف صمیم
چاپ کال	::	۱۳۸۵ ل (۲۰۰۶ ع)
چاپ شمېر	::	۱۰۰۰ ټوکه
د خپرونو لړ	::	(۸۴)
کمپوز	::	ذبیح شفق

چاپ او کمپیوټر ځی

د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي ځانګه ـ پېښور

Tel:+92-91-2564513/Email:danish2k2000@yahoo.com

فهرست

په دې ټولګه کې دغه مقالې او لیکنې خپرېږي:

ګڼه	سرلیک	لیکوال	مخګڼه
۱.	په بلجیم کې د افغاني کلتوري	.....	۱
۲.	د حمیدي د آثارو ښوونیز	**پوهنمل رحمت ګل ځواکمن**	۴
۳.	د اروابناد حمیدي د آثارو عمده	**زرین انځور**	۱۴
۴.	د حمیدي صاحب یاد	**دکتور محمد علي هوما**	۲۴
۵.	حمیدي صاحب او دده طنز	**عبدالواحد نظري**	۳۲
۶.	حمیدي: د خوشال فرهنګي ټولنې	**پوهنوال عبدالخالق رشید**	۳۶
۷.	د اروابناد حمیدي ناچاپو	**افضل تکور**	۴۷
۸.	د حمیدي صاحب د یاد نذرانه	**کاتب پاځون**	۵۳
۹.	اروابناد حمیدي یو لیکوال	**اجمل روهي**	۵۸
۱۰.	د حمیدي نظم ته یو ځغلند	**نظیف تکل**	۶۶
۱۱.	د اروابناد حمیدي د جنازې	**بسم الله اکبري**	۷۴
۱۲.	د اروابناد حمیدي شعرونه	**حمیدي**	۸۱

د خپرندويې ټولنې يادښت:

د حميدي ياد

د اروابنـاد ميـرزا علـم حميـدي د ژونـد او ليکنـو د ښلابښلـو اړخونـو پـه اړه د مقـالو دغـه ټولګـه دهغـې غونـډې يـا سـيمينار د ليکنـو او وينـاوو جونـګ دی چـې تبـر کـال د هغـه اروابنـاد د غمجنې مړينې لـه املـه د هغـه پـه يـاد پـه جرمنـي کـې د افغانسـتان د کلتوري ودې ټولنې له لورې جوړه شوې وه.

پـه هغـه غونـډه کـې سره لـه دې چـې ويناوې او مقالې يې پـه بيړه تهيـه شـوې وې، خـو زمـوږ پـه نظر پـه دغـو ليکنـو کـې د اروابنـاد حميـدي پـه اړه او د هغـه د ليکنـو پـه بـاب ډېـر مهـم مـواد او مطالـب رانغاړل شوي او ځای شوي دي.

مـوږ هيلـه مـن يـو چـې د اروابنـاد حميـدي پـه هکلـه د مقـالو ددغـې ټولګې پـه پـاڼو کـې بـه د هغـه د يـاد د ژونـدي ساتلو تـر څنګ، پـه افغـاني کلتـور او ادب کـې د هغـه د ونـډې او دريـځ پـه اړه پـه زړه پورې ليکنې ولولئ.

د افغانسـتان د کلتـوري ودې ټولنـه ځـان نېکمرغـه ګڼـي چـې دغـه اثـر د ايمـل خـان د تـاريخي کارنـامو د يـاد د لـويې غونـډې د جوړېدو په ويار خپروي.

په درنښت

د ټولنې د مشرتـه جرګه
جرمنـي، د کولن ښار
د ۲۰۰۶ کال د جولای ۳۱

په اروپا کې د افغاني کلتوري ټولنو د ګډې جرګې په استازې

په بلجیم کې د افغانانو د کلتوري ټولنې پیغام

۱

ګرانو دوستانو او د یاد غونډې ښاغلو ګډونکوونکیو!

د پرودګار د ډېرو اسرارو له برخو څخه یو هم مرګ او ژوندون دی و چې د یوې سیکې دوه مخه دي، یعنې مرګ او ژوند او هر ژوند د مرګ پیغام دي او دا پیغام رښتینی پای لري.

ګرانو دوستانو او ښاغلیو ګډونکوونکیو!

مـوږ يـو ځـل بيـا د افغـاني ټـولنې د پښتـو ادبيـاتو او کلتـور د يـو بـل فرهنګپـال اروابنـاد مېـرزا علـم حميـدي د ويـر پـر ټغـر کښناسـتو. هېڅـوك بـه تلپـاتی ابـدي ژونـد ونـه لـري، دا الهـي قـانون دی. هغـه څـوك بـه پـه مصـونيت کـې ژونـد ولـري، چـې د خپلـو خلکـو، کلتـور، ژبـې او د هېـواد د خـدمت پـه لار کـې يـې خپـل خـوږ ژونـد وقـف کـړی وي او د خپـل کلتـور او ژبـې چوپـړ تـه يـې پـه ربښتينې مـلا تـړلې وي، چـې د داسـې خلکـو پـه کتـار کـې يـو هـم اروابنـاد مېـرزا علـم حميدي دی.

هغـه د پښتـو ادب د بـډاينې لپـاره لـه انګرېـزي او فارسـي ژبـو څخـه د چلبـاز، بدمرغـه ټـاپو، کچکـول، د بـري راز، د کـانې زړونـه او داسـې ډېـر پـه زړه پـورې نـور آثـار وژبـاړل او همدارنګـه يـې خپلـه هـم د زړې ادبې کيسـې پـه نامـه کتـاب وليکـه. اروابنـاد مېـرزا علـم حميـدي کـه څـه هـم د زده کـړې پـر اسـاس د پښتـو ادبيـاتو اکاډميـك لوسـت نـه درلـود، مګـر د پښتـو ادبيـاتو لـه بـډاينې سـره ډډه مينـه او پـه دې لار کـې يـې لـه څـو لسـيزو راهيسـې د چوپـړ مـلا تـړلې وه او د هېـواد پـه مطبوعـاتو کـې يـې ليکنې پـه مختلفـو وختونـو کـې خپـرې شـوې دي. اروابنـاد حميـدي د پښتنـي ادب د چوپـړ پـه لار کـې ژونـدی نـوم لـري او ډډه ليکلـي آثـار بـه پـه پښتـو ادب

کـې مناسـب ځـای ولـري، چـې همـدا اوسـنۍ رابلـل شـوې د يـاد غونـډه اروابنـاد تـه پـه پښتنـي ادب کـې د درنښـت معنـا لري.

پـه بلجـيم کـې د افغانـانو کلتـوري ټولنـه پـه ټولـه اروپـا کـې د افغـانـي کلتـوري ټولنـو د ګـډې جـرګې پـه اسـتازۍ د اروابنـاد حميـدي د کورنـۍ ټولـو غړيـو او دوسـتانو تـه يـې د تسليت هيله لري. روح يې شاد او ياد يې تلپاتی اوسه.

په ډېر پښتنـي ادب او درنښت
د ټولنې مشرتابه جرګه

پوهنمل رحمت گل ځواکمن

د اروابناد حميدي د آثارو بنوونيز ارزښت

خوشال بابا وايي:

چرته پسې دروم په کوم لوري به يې مومم

ورکـــه موندی نه شي بې رهبره بې سراغه

د ورکـــې لټـــون، د پټـــو رازونـــو راســـپړنه، د ژونـــد د تيـــارو ګوټونـــو رڼـــا کـــول، د ژونـــد د لارو پـــر ســـختو پېچومـــو ختـــل او د پـــوهې او هوښيـــاری ترلاســـه کـــول او ســـراغ د ښـــاغلي حميـــدي پـــر درېـــو ګټـــور آثـــارو ژورې خبـــرې، د بريـــاليتوب لاز او د بـــري راز کې موندلای شو.

پـــه دې کـــې شـــک نشـــته، چـــې اروابنـــاد مبـــرزا علـــم حميـــدي ډېـــرې

ليکـنې او ژبـارنې کـړي دي، هغـه شـعر هـم ليکـه او د طنزونـو ژبـارې يـې هـم ترسـره کـړي دي هغـه د پښتـو ژبـې د ودې لپـاره د ډېرو ليکنو تکل درلود، خو د کومـو درېـو آثارو نومونـه چې مـا واخيسـتل، پـه حقيقـت کـې يـو لـوری تعقيبـوي، پـر يـوه لاره درومي او هغه د بريالیتوب او پرمختګ لاز ده.

لـه هغـه سره دا فکـر و، چې څنګـه ټولنې تـه لارښوونـه وکـړي، څنګـه خلـك د بـري پـر لـوري وخوځـوي، څرنګـه هغـوی تـه د ورکـو لارو د مونـدنې کيلـي پـه لاس ورکـړي او څرنګـه افغـان اولـس د پـوهې او زده کـړې د لاس تـه راوړلـو او ترسـره کولـو لپـاره وهڅوي.

هغـه تـه هوښيـارتوب ډېـر ارزښـت درلـود. هغـه پوهيـده چـې د انسـاني تمـدن هسـکو تـه رسـېدل بـې لـه پـوهې او هوښيارتيـا نـاممکن دی. لـه همـدې لاملـه هغـه تـل نـاکرارو او ددې فکـر او سـوچ رااخيسـتی و، چـې خپـل وګـړي څرنګـه د پـوهې پـه ګانـه سمبال کړي.

هغـه پـه ۱۳۷۵ کـې پـه همـدې نيـت د ژوړې خبـرې پـه نـوم يـو ګټور اثر خپـور کړ. اروابنـاد حميـدي د نومـوړي کتـاب پـه سـريزه کې ليکلي او وايي:

"د پښتـو ژبـې د فرهنګـي پرمختګونـو پـه بهيـر کـې دا دی زه هـم د خپـل وس او تـوان سـره سـم ګرانـو لوسـتونکيو تـه د ژوړې خبـرې پـه نـوم اثـر وړانـدې کـوم. دا ځکـه چې کلـه کلـه پـه جرګـو، مرکـو او مجلسـونو کـې ځينې خيـر غوښتـونکي انسـانان د خپلـو

خبـرو د ښـې اغېـزې او د خـپلې پرېکـړې د منلـو لپـاره داسـې اسـتدلال او غښتلـي منطـق تـه ضـرورت لـري، چـې د مخـامخ لـوري او د نـورو اوربـدونکيو د زړونـو پـه تـل کـې ځـای ونيسـي، د دوی په وجدان، احساساتو او فکر ژوره اغېزه وشيندي.

زمـا پـه عقيـده دا ډول مـنلې او غښـتلې خبـرې د اسـلام د سـتر پېغمبـر، دده د يـارانو او د نـړۍ د لويـانو پـه لنډو خبـرو او پښتـو متلونـو کـې مونـدلای شـو. لـه دې کبلـه مـې وغوښتـل، چـې دغـه ګټورې خبرې پښتني فرهنګ ته راګډې کړم..."

ښـاغلي زلمـي هېوادمـل د همـدې اثـر پـه بـاب د خـپلې ليکـنې په يوه برخه کې کښلي:

"ددې کتـاب ښېګڼـه دا ده، چـې پـه شـرقي او غربـي فرهنګونـو دواړو پـورې مربوطـو پوهـانو، علمـاوو او مفکرينـو لنـډې خـو ژورې وينـاوې يـې پکـې راټـولې کـړې دي او دغـه ښکلـې مجموعـه يـې تـرې پـه دې نيامـت جـوړه کـړې ده، چـې د پښتنـو پـه اخلاقي او فکري روزنه کې تر ګټه واخيستل شي..."

لـه دې خبـرو داسـې برېښـي، چـې د اروابنـاد حميـدي ارمـان و، چې خپل اولس ته اخلاقي او فکري روزنه ورکړي.

د نـړۍ پـه ډېـرو هېوادونـو کـې داسـې کسـان تېـر شـوي او شـته، چـې د انسـاني ټولنې د خيـر او سـلامتيا، د انسـاني تمـدن د ځـلا او غورېـدنې او د جهالـت لـه تيـارو د پـوهې رڼـايي تـه د خلکـو د راکښلـو لپـاره تـل پـه فکـر او سـوچ کـې ډوب وي. پـه دې هکلـه کنولای شـو يـوه بېلګـه د شـهيد پوهانـد داکتـر بهاوالـدين مجـروح

په یوه فلسفي اثر ځانځانی ښامار کې ولولو.

پـه یـوه ځـای کـې یـې د شـان پـول سـارتر د فرانسـې وجـودي معاصر فیلسوف ته په اشاره ویلي دي:

چرته لرې یو لوی ښار و
اوازه یې د ښاښست خپره هر لوري
په دې ښار کې اوسېده یو لوی سړی هم
د اولس په هوښیارانو کې هوښیار و
سوچ وهل فکر کول یې کسب و کار و
د جهان او ژوند رمزونه لټول ده
په دفترو په اوراقو کتابو کې.

داسې کسان لکه د شهید مجروح د ځانځاني ښامار په یوه ځای کې چې ورته اشاره شوې، زمونږ په هېواد کې هم وو او شته، چې په کتابونو او دفترونو کې ډوب دي او سوچ وهل او فکر کول یې کسب او کار دی. له دې جملې یو هم اروابنـاد حمیدي و، چې زیات عمر یې په سوچ او فکر تېر کړی و.

د اروابنـاد حمیدي دوهم اثر، چې زما له نظره بیا هم انسان تـه ښوونـه کـوي، چـې ژرنګـه پـر کړاوونـو او مصـیبتونو بـری ومـومي. ژرنګـه د بریـالیتوب لار ومـومي او ژرنګـه پـه اغېزمنـه توګـه خپـل هدفونـه ترلاسـه کـړي. د بریـالیتوب لار نومېړي، چـې پـه ۱۳۷۸ کـې خپـور شـوی دی. د لیکـوال پـه زیـار پکـې د نـړۍ د نومیـالیو لیکوالـو او پوهـانو لـه نظـره د نبـوغ، هوښیـاری او د بري د لارو چارو په هکله ډېر ګټور معلومات راټول شوي دي.

ښاغلی انځور د "څو خبرې" تر سرلیك لاندې د نومورې اثر په هکله په یوه ځای کې لیکي:

" د ښاغلي لیکوال میرزا علم حمیدي تدوین کړی او تالیف کړی اثر "د بریالیتوب لار" د ژوند د لارویو لپاره د بریالیتوب رازونه راسپړي. لوستونکي او د ژوند د ښاپستونو د لارې مینه وال د ژوند د خوښۍ پر اصلي راز پوهوي، د بریو پلټونکي ددغه لټون په موخه او لارو چارو خبروي..."

همدارنګه پخپله حمیدي صاحب د خپل دې اثر په سریزه کې یوځای داسې لیکي:

"بشر همېشه کنجکاو او پلټونکی و او دی، ډېره مینه لري، چې د پخوانیو انسانانو له تېرو کړو وړو نه خبر شي، نو ځکه یې د خپلې هوښیارۍ او ژور فکر د کار او عمل او د پرله پسې پلټنو له مخې د پټو رازونو په راسپړلو کې هڅې پیل کړې، ستر تمدنونه یې رامنځ ته کړل، لوی ښارونه یې ودان کړل او ډېر ښکلي هنري آثار یې رامنځ ته کړل..."

بل ځای وایي:

"دا ځکه چې د ناپوهۍ له املنه د ښو او بدو، د رښتیا او درواغو، د دوستانو او دښمنانو او دا ډول ډېرو نورو خبرو ترمنځ توپیر نه شو کولای، لاتراوسه هم هغو کسانو ته چې د وروروژنې په اور کې مو لولپه کوي، خپلواکي او د خاورې بشپړتیا، ملي واکمني او ملي یووالي ته مو زیان رسوي، ملي او تاریخي ویاړونه مو وژني، د ځینو کسانو له خوا "د ملي

خـاښ" پـه ځـای د ملـي اتـل (!) نـوم ورکـول کـېږي، مـا هـم دا کـار پـه دې هیلـه ترسـره کـړ، چـې ګونـدې لـه یـوې خـوا لوسـتونکي او څېـړونکي پـه تېـره پښتـنې خوښـدې او ورونـه ګټـه ورځخـه واخلـي، د هوښیـاری او لیـرې لیـد سـترګې یـې لاپـرې روښانـه شـي او لـه بلـې خـوا د پښتـو ژبـې پـه امپـل کـې یـوه بلـه کوچنـۍ مرغلره هم ورزیاته شي.

د اروابنـاد حمیـدي پورتنـۍ څـو کـرښې بیـا هـم سـړي تـه داسـې تصـویر پـه مخکـې ږدي، چـې دی پـه افغـاني ټولنـه کـې تـر ټولـو غټـه ناخوالـه او سـتونزه نـاپوهې او نالوسـتي ګڼـي، دی پـه دې تکـل کـې و، چـې د افغـان اولـس د پـرمختګ کـاروان لـه تورتمـو لارو او ګړنګونـو، د روښـانو لارو او هـوارو لارو پـه لـور رهنمـایي کـړي. دی هـر چېـرې او هـر وخـت د څـراغ پـه لټـه و، دی د نـړۍ پـه هـر ګـوټ کـې پـه ژورو خبـرو پسـې ګرځېـده، د بریـالیتوب لارې یـې لټولې او خپـل اولـس تـه یـې پـه ګوتـه کـولې. د ده پـر اوږو یـو درونـد بـار پـروت و او هغـه ټولنـه پوهـول او ټولنې تـه ښوونـه وه. دی پوهېـده چـې پـه پـوهې او حکمـت سـره پـر دښمـن بـرۍ، پـر سـتونزو بـرۍ او د پـرمختګ بـرۍ تړلاسـه کـدای شـي. راځئ زمـا ددې خبـرې د اثبـات لپـاره دده د درېـیم اتـر تـه مراجعـه وکـړو. دا ځـل بیـا هـم ده د بـرې راز لټـولی دی. د پروفیسـور جـان مورګـان اثـر یـې ژبـارلی او (د بـرې راز) پـه نـوم یـې پـه ۱۳۸۳کـې خپـور کړی دی.

دا اثـر، چـې پـه حقیقـت کـې ټـولنیزه اروا‌پوهنـه ده، پـه دومـره

خـوږه او روانـــه پښتـــو ژبـــاړل شـــوی او غورچـــاڼ شـــوی، چـــې لوســتونکي تـر پايـه لوسـتلو تـه رابـولي. دلتـه بيـا هـم پـه دې اثـر کـې ډېـر پـه زړه پـورې مفـاهيم راټـول شـوي او ژبـاړل شـوي دي. هغـه څـه چـې بـې لـه شـکه د انسـان سـړيتوب او شخصـيت بشپړوي او د بري له رازونو يې خبروي.

د ساري په توګه يې د څو سرليکونو نومونه اخلو:

لويـان لـه مـوږ سـره څـه تـوپير لـري، د ګرانښـت راز، د نـوي دوست په لټه، خلك څنګـه د ځان پلوي کولای شو، په خبرو اترو کـې نـورو تـه موکـه ورکـړئ، مرسـتې تـه د رابنکلـو لار، هوښيـار اوسه، چې بريـالی شې او داسې نـور پـه لسـګونو ګټـور څېرکـي د نوموړي ددې ژباړلي اثر غوره برخې جوړوي.

اروابنـاد حميدي د خپل دغه اثر په سريزه کې يوځای ليکي:

"کلـه چـې د مطـالعې پـه لـړ کـې کـوم کتـاب د پښتـو ژبـې او پښتنـو خوښـدو او ورونـو پـه ګټـه راتـه ښکـاره شـي، سمدسـتي قلـم تـه لاس او داسې پـه بېړه يـې ژبـاړه پيـل کـوم، لکـه پـه سـر مـې چـې څـو ټـولې پيريـان ناسـت وي او يـا مـې پـه دې هکلـه لـه خپـل وجدان سره ټرون کړی وي. لـه دې کبلـه پـه بـل چـا منـت نـه بـاروم، بلکـې غـواړم لـه دې ليـاړې د خپلې ګرانې مـور شـيدې حلالـې او خپـل زړه تـه تسـل ورکـړم، ځکـه چـې هـر ملـت پـه خپلـه ژبـه پـايې او د هـر ملـت چـې ژبـه کمـزورې وي د هغـه ملـت معلومـات او لاس تـه راوړنـــې هـــم لـــږې وي. او ورو ورو د پوپنـــاه کېـــدو پـــه لـــورې دروميږ..."

زه پـه جرائـت سـره ويـلای شـم، چـې اروابنـاد حميـدي د خـپلې ګـرانې مـور شـيدې حلالـې کـړې او پـه خپـل دغـه نيمګـړي عمـر کـې يـې دومـره ګټـور آثـار خپلـو پښتنـو خوښـدو او ورونـو تـه پـه ميـراث پرښـې، چـې کلونـه کلونـه بـه لـه يـوه نسـله بـل تـه لېږدېـږي او د ګـران حميـدي صـاحب اروا تـه بـه وربانـدې د دعـا لاسـونه پورته کېږي.

زه بـاور لـرم، چـې د اروابنـاد حميـدي کـار او خـدمت، چـې د پښتـو ژبـې د غښتلتيـا او پـرمختګ لپـاره يـې ترسـره کـړي او هغـه ارمانونـه، چـې ده د خپلې ټولنې د پوهـاوي لپـاره لـرل دومـره زيـات دي، چـې پـه يـوه ناسـته کـې نـه شـو کـولای پـر هغـو ډېـرې لـرې خبـرې هـم وکـړو. زه يـوازې دومـره ويـلای شـم، چـې داسـې کسـان چـې خپـل ژونـد د اولـس د ژبـې او پـوهې د پـرمختګ لپـاره وړيـا خـدمت تـه وقـف کـوي، د ګوتـو پـه شـمېر دي او ددا ډول کسـانو مړينـه زمـوږ لپـاره ډېـره درنـه پرېـوځي. کـه چېـرې هغـه خـدای لـه مـوږه نـه وای اخيسـتی، بـاور لـرم چـې نـورې ډېـرې د بري لارې، ژورې خبرې او د بري رازونه به يې راسپړلي وای.

يـو بـل څـه چـې د يـادولو وړ دي، هغـه دا دي چـې نومـوړی نـه يـوازې ليکـنې کـولې، بلکـې د ليکوالـو او فرهنګيـانو پـه راټولولـو او سـازمانولو کـې يـې هـم تـل پـه زړه سـوي سـره کـار کـړی دی.

دی داسـې يـو څـوک و، چـې د خـپلې ژبـې او کولتـور پـه پـاللو کـې يـې هـم تـل هڅـې کـړې دي، چـې دا رنګـه يـو وخـت پـه

افغانستان کې د خوشال فرهنګي ټولنې د لارښودي شورا غړی او د هغې ټولنې د مالي چارو مسوول و.

وايي، چې د خوشال فرهنګي ټولنې لومړني مشر درونـد استاد اروابنـاد روهي به ويل:

"خير دی کـه مـوږ پيسې نـه لـرو، حميـدي صـاحب لـرو..." لـه دې معلومـيږي، چـې اروابنـاد حميـدي داسـې څـوك و، چـې فرهنګيانو وربانديې تکيه کولای شوه او پر هغه به ډاډه وو.

دلتـه د مهـاجرت پـه مهـال پـه هالېنډ کـې هـم دی کـرار نـه و ناسـت، پـه ۱۹۹۸ کـې يـې د اميرسفوسـت پـه ښـار کـې کولتـوري بهيـر پيـل کـړ او غوښتـل يـې افغـان کولتـور تـه مـنظم خـدمت وکـړي. پـه دوه زرم کـال، چـې کلـه پـه هالېنـډ کـې افغـاني کولتـوري ټولنـه جوړېـده، دی يـې لـه موسسـينو او بيـا وروسـته د مشورتي شورا له غړيو څخه و.

لنډه دا چې اروابنـاد حميـدي د افغـان کولتـور پـه خـدمت او د افغـاني ټـولنې د ښـوونې او روزنـې پـه لاره کـې د ګټـورو آثـارو د ليکلو ترڅنګ له هر ډول بدني او مادي مرستو ډډه نه ده کړې.

پـه پـای کـې زه خـپلې خبرې د اروابنـاد حميـدي اروا تـه پـه دعـا او د هغـه د "ژورې خبـرې" د اثـر پـه يـو دوو ژورو خبـرو پـای تـه رسوم:

ـ د قيامت په ورځ د قـدر او منزلـت لـه مخـې تـر ټولـو تـيټ او بـد سـړی هغـه څـوك وي، چـې لـه خپـل علـم څخه ګټه نه اخلي.

د نبوي حديث ژباړه:

ـ کله چې انسان مړ شـي، عمـل يـې قطـع شـي، خـو د درېـو شـيانو تـل ثـواب وررسـېږي او هغـه دا دي: جـاري صـدقه، پوهـه چـې د خلکـو د ګټـې وړ ګرځېـدلې وي او صالح اولاد، چې دعا ورته کوي.

زه فکـر کـوم چې حميـدي صـاحب ځانتـه پـورتني درې ثوابونـه ګټلي دي.

له پاملرنې مو مننه

زرین انځور

د اروابـاد حمیدي د آثارو عمده ځانګړنې

اروابـاد مېـرزا علـم حمیـدي د هغـو افغـان لیکوالـو او ژبـاړونکیو پـه کتـار کـې دی، چـې د ژونـد ډېـره او اساسـي برخـه یـې لیکنـو او ژبـاړنو تـه ځـانګړې کـړې وه او سـره لـه دې چـې اوږده کلونـه یـې د هېـواد دننـه زیـاتې او بېلابېلـې بوختیـاوې او مصـروفیتونه لـرل، خـو قلـم بـې تـل پـه لاس کـې و او د ژونـد لـه نـورو چـارو او مصـروفیتونو سـره یـې پـر ژونـد او د ژونـد پـر چـارو تل دغه قلم په مینه او خلوص چلولی دی.

د اروابـاد حمیـدي آثـار مـوږ تـه لـه بېلابېلـو اړخونـو څخـه د

ارزښت، پاملرنې او ستاینې وړ دي. د هغه راپاتې آثار د هغه د مینې او پېرزوینې هغه ډالۍ دي، چې لکه له خپل مرګ څخه چې خبر لیکوال په تلوار، جدیت او تلوسه خپلو هېوادوالو ته د خپل اولس خواږې ژبې ته وړاندې کړي وي.

هغوی له ۱۵ څخه زیات مستقل آثار لیکلي یا ژباړلي او خپاره کړي یې دي. ددغو ټولو او بېلابېلو آثارو په باب څه ویل ددې غوښتنه کوي، چې هر اثر یې په جلا جلا توګه وڅېړل شي او نن به یو شمېر دوستان پر دغو آثارو بحثونه کوي، خو زه غواړم چې په عمومي توګه د هغوی د آثارو پر یو څو عمده او اساسي ځانګړنو او دغه راز د نثر پر ځانګړنو خبرې وکړم.

زما په نظر د اروابنـاد حمیدي آثار په عمومي توګه ددغو ځانګړنو لرونکي دي:

۱ـ تر ټولو مهمه خبره دا ده، چې د هغه آثار، لیکنې او ژباړې د اکاډمیکو یا تحقیقي برخو پرځای، یا د یو ځانګړي ادبي ځېل (ژانر) پر ځای، د عام افغان لوستونکي لپاره د ژوند د عامو اړتیاوو، د عامو لېوالتیاوو او علاقمندیو له مخې تهیه شوي دي. هغه په دې هڅه کې و، چې پښتو چاپ شوي آثار په عامو لوستونکیو کې مینه وال پیدا کړي.

د اروابنـاد حمیدي آثار د عامو لوستونکیو له ذوق سره برابر تهیه شوي، کښل شوي، تالیف شوي یا ژباړل شوي دي. ددغو آثارو موضوعګانې داسې دي، چې د عامه ذوق، د افغانستان د عامو لوستوالو د مینې او علاقې وړ دي. طنز،

ژوري خبـري او کـانې کـرښې، ټـولنيزې او روانـي موضـوعګانې او داسې نور...

هغـه موضـوعګانې، چـې اروابنـاد حميـدي پـرې خپـل کتابونـه کښلـي يـا ژبـارلي داسـې دي، چـې د لوسـتوالو ځـانګړې ډلـه او کټـه ګـوري نـه لـري، نـږدې د هـرې کچـې لوسـتونکي داسـې کتابونه لولي.

ددغـه ډول آثـارو او کتـابونو د پـام وړ ارزښـت پـه دې کـې دی، چـې عـام لوسـتونکي ورو ورو لـه کتـاب او مطـالعې او پـه حقيقـت کـې د علـم نـړۍ سره علاقـه پيـدا کـوي. په لږوالتيـا سره يـې لـولي او همداسـې خـو د ژورو او پېچلـو آثـارو د مطـالعې پـر لـوري هـم روانېـږي. لکـه چـې ښـاغلی هبوادمـل "د زړې ادې کيسـې" پـه سريزه کې ليکي:

" د ښـاغلي حميـدي صـاحب د چـاپ شـويو کتـابونو يـوه ډمـده خاصـه دا ده، چـې د عـامو لوسـتونکيو لـه ذوق سـره برابـر دي. زمـوږ پـه فرهنګـي چاپېر کـې يـوه عمـده ستونزه دا ده، چـې مـوږ د عـامو لوسـتونکيو لـه ذوق سـره برابـر کتابونـه، نـه برابـروو. د پښتـو زيـاتره کتابونـه اختصاصـي او د يـوه ځـانګړي قشـر د دلچسـپۍ وړ وي، عـام لوسـتونکي تـه لـږه توجـه کېـږي. د همـدې بـې توجهـۍ پـه وجـه پـه عـامو يـا لـږ سـواد لرونکيـو پښتنـو کـې د پښتـو کتـاب لوسـتل وده نـه کـوي او ددې ډلـې يـو نـيم ذوقـي، چـې پـه خپلـه ژبـه کـې د خپـل ذوق کتـاب نـه مـومي، نـو بيـا د بلـې

ژبې د کتابونو لوستلو ته مخه کوي..."

"د زړې ادبي کيسې، ميرزا علم حميدي، د سرمحقق زلمي هېواد مل سريزه، پېښور، خوشال فرهنګي ټولنه، ۱۳۸۰ (۲۰۰۱)، (۸) مخ

د عامـــه ذوق موضـــوعګانې زيـــاتره تـــولنيزې، اروايـــي او رۅانـــي، طنزيـــه او داســـتاني ليکـــنې دي، يـــا د ژونـــد د ضـــروري مســـاېلو پـــه اړه ليکـــنې وي، دغـــو موضـــوعګانو تـــه اروابـــاد حميدي په خپلو آثارو او کتابونو کې پوره پاملرنه کړې ده.

۲ـ د اروابـاد حميـدي د آثـارو يـوه بلـه ځانګړنـه دا ده، چـې هغـه د خپـل ژونـد پـه اوږدو کـې او د افغـاني ټـولنې د ژونـد پـه اوږدو کې په خپل خپل وخت کې ضروري مساېل هم په پام کې نيـولي او بيـا يـې ليکـنې يـا ژبـارنې کړې دي. کلـه چې د طنـز لـه لارې د ټـولنې د شـهرت پـر لـور د يـون تکـل ورسـره پيـدا شـوی او ددې ضـرورت احسـاس يـې کـړی دی، بيـا يـې د عزيـز نسـين آثـارو تـه مخـه کـړې ده او پښتـو کـړي يـې دي. کلـه چـې پـه وطـن کـې د کمـونېزم نغـاړي ګـرمې وې، ددغـه نظـام پـه اړه د جـورج آوايـل مهـم طنزيـه سياسـي اثـر (The animal fan) يـې د "ژوبـن" پـه نـوم پـه هماغـه اختنـاق کـې راوژبـاړه، چـې سياسـي چاپېريـال لـږ د بـدلون پـر لـور روان شـو هماغلتـه او هماغـه وخـت يـې پـه کابـل کـې پـه خپـل لګښـت خپـور کـړ، مـا لـه چـاپ ډېـر مخکـې پـه کابـل کـې د اروابـاد حميـدي لـه خـوا ددغـه ژبـارلي اثـر مـتن لوسـتی و. زمـا پـه نظـر پـه هغـه وخـت کـې دا د هغـه د زړورتيـا او لـه اولـس سره د ريښتينولې او صداقت يو ګام و.

ده ددغـه بشـپړ سیاسـي کتـاب پـه سـریزه کـې د ډېـرو سیاسـي خبرو پر حای یر دغو خبرو بسنه کړې وه:

"کـران لوسـتونکي ښـه پوهېـږي، چـې زمـوږ د سـترې نـړۍ انسـاني ټولنې پـه سیاسـي کړښـو باندې سره بېلـې شـوې دي، خـو انسـاني مفکـورې او بشردوسـتۍ هېڅکلـه سـرحدي پـولې نـه پېژنـي، دا ځکـه چـې د انسـانیت او سـړیتوب نړۍ یـوه ده، نـړۍ د ژبـو پـه سـرحدونو باندې نـه شـي بېلېـدلی، ځکـه انسـانان لـه یـو او بـل سـره اقتصـادي، اجتمـاعي، علمـي او فرهنګـي اړیکـې لـري، یـو لـه بـل څخـه د نوښتونـو د زده کـړې، ګـډې غـوښتنې او ورتـه خویونـه لـري، چـې دا ټـول فکتورونـه زمـوږ نړېـوال اړیکـي سـره نښلـوي. وایـي "ژوبـن" د نـړۍ پـه ډېـرو مشـهورو ژبـو ژبـاړل شـوی دی، نـو ځکـه مـا هـم پـه پښتـو ژبـه وژبـاړه، ګونـدې د پښتـو ژبـې د غنـي کولـو، د ځـوان نسـل د خبرتیـا او هوښیـارۍ لپـاره خـدمت وي..."

(ژوبن، جورج آرویل، ژباړن: میرزا علم حمیدي، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۸ (۱۹۹۰ ع) (ب ـ ح مخونه)

دغـه راز کلـه چـې یـې د مهـاجرت او پردېسـۍ هغـه اوږده او غـم لړلیـو افغـاني کـاروانونو تـه پـام اوښتـی دی، نـو یـې دغـه اوږده غمیـزه هـم د یـو کتـاب پـه بڼـه ثبـت کـړې ده او پـه دې توګـه یـې "د کـانې زړونـه" تـرې جـوړ کـړي دي. کلـه چـې یـې پـه خپلـه ژبـه کـې د روانـي او داسـتاني آثـارو د کمښـت احسـاس کـړی دی، بیـا یـې نـو پـه دغـو برخـو کـې د کـوم مهـم کتـاب د ژبـاړې تکـل کـړی دی. د ژونـد پـه وروسـتیو ورځـو کـې یـې پـه هېـواد کـې د

بیـارغونې پـه اړه د یـو کتـاب پـر ژبـاړه کـار وکـړ او لـه مرګـه مخکـې یـې بشـپړ او چـاپ تـه چمتـو کـړ، چې هیلـه ده ژر د چـاپ پـه ګانـه سـمبال شـي. اوس یـې د هبـواد د هراړخیـزې بیارغـاونې په اړه د مهمو ټکو خوا ته پام و.

۳_ د اروابنـاد حمیـدي نثـر روان، سـاده او خـوږ دی. هبـڅ ډول پیچلتیـا نـه پـه کـې تـر سـترګو کېـږي. د هغـه د ژبـاړلیو داسـتاني آثارو نثر پـه تبـره بیـا ډېـر خـوږ او پـه زړه پـورې دی. هغـه آثـار چې د عـامو لوسـتونکیو لپـاره کښـل شـوي، هڅـه شـوې چې نثـر یـې لـه هـره پلـوه روان او سـاده وي. پـه دې لړ کـې د هغـه د روان او خـواږه نثـر بېلګـې د هغـه پـه هـر اثـر او ژبـاړه کـې پـه پرېمانه توګه راترسترګو کېدای شي.

۴_کـه مـوږ د اروابنـاد میـرزا علـم حمیـدي د آثـارو عمـومي فهرسـت تـه وګـورو، نـو بشـپړ طنزیـه آثـار او یـا طنـز ډولـه لیکنـې پکـې تـر نـورو ټولـو زیـات دي. کـه د هغـوی لـه خپلـو طنزیـه لیکنـو راتېـر شـو، پـه نـورو طنـزي آثـارو کـې یـې تـر ټولـو زیـات د ترکـي مشـهور طنـز لیکـونکي عزیـز نسـین آثـار پښتـو تـه راژبـاړلي دي. زمـا پـه نظـر اروابنـاد حمیـدي هغـه لیکـوال دی، چې تـر نـورو ټولـو پښتـو لیکوالـو او ژبـاړونکیو یـې د عزیـز نسـین زیـات آثـار راژبـاړلي او خپـاره کړي دي.

تـر ښـاغلي ګلـزرګ خـدوان راوروسـته چـې د "انتخـابي ښـاروال" پـه نـوم د عزیـز نسـین ځینـې طنزونـه یـې پـه کتـابي بڼـه خپـاره شـوي، حمیـدي مرحـوم پـه دې برخـه کـې تـر ټولـو زیـات او

اساسي کار کړی دی.

دا چې حميدي څنګـه د عزيـزي نسيـن آثـارو تـه تـر نـورو ټولـو زياتـه پاملرنـه کـړې ده. د نسـين پـه آثـارو کـې د ژور ټـولنيز طنـز، د ټـولنيز درد او نـاخوالو پـه زړه پـورې او ډېـر جالـب بيـان دی. هغـه خپلـه د "چلبـاز" پـه سـريزه کـې دې ټکـي تـه داسـې اشـاره کوي:

"ولې د عزيز نسين آثار:

ګـران لوسـتونکي ښـه پوهېـږي، چـې زمـوږ د سـترې نـړۍ انسـاني ټـولنې خـو لاڅـه ان چـې خلـي، بـوتي، کـانې او خـاورې، هسـك، سـيندونه او سـمندرونه هـم پـه سياسـي کړښـو وېشـل شـوي او بېـــل شـــوي دي، خـــو انســـاني ارزښتنـــاك اندونـــه، د بشردوسـتۍ، ځـوانمردۍ او مېـړانې کيسـې د توتيـانو او توتکيـو پـه څېر لـه يـوه هېـواد نـه بـل هېـواد تـه او لـه يـوه نسـل نـه بـل نسـل تـه الـوزي. لـه يـوه زړه او يـوې خـولې نـه بـل زړه او بلـې خـولې تـه لاړه پرانېـزي، لـه دې کبلـه ويـلای شـو چـې د انسـانيت، ګرانبښـت او سـړيتوب نـړۍ پـولې نـه پېژنـي، ځکـه چـې انسـانان يـو لـه بـل سـره اقتصـادي، سياسـي، ټـولنيز، علمـي او فرهنګـي اړيکـې لري، چې دغه او دا ډول نور اړيکې مو له يوه بل سره ښښلوي.

پـه همـدې لړ کـې کلـه چـې زمـا لاس تـه د عزيـز نسـين کتابونـه راورسـېدل، د لوسـتلو پـه وخـت کـې همېشـه دا خبـره رايادېـده، چـې وايـي:"ليکـوال دوه ډولـه ژونـد لـيـك لـري، يـو يـې دننـه (بـاطني) ژونـد لـيـك دی، چـې دده پـه آثـارو کـې څرګنـدېږي او بـل

يې باندینی ژوند لیک دی، چې دده په عملي کړو وړو کې تر سترګو کېږي. دا ځکه شوپنهاور هم ویلي دي:"هر څوك چې د لویانو ژوندلیك څېړي او آثارو ته يې پام نه کوي، دوی د هغو کسانو په څېر دي، چې د انځور چوکاټ ته يې پام وي، خو پخپله انځور ته ارزښت نه ورکوي."

په همدې ډول ماته له یوې خوا د عزیز نسین له لیکنو څخه داسې جوته شوه، چې نومورې د کلك هوډ او د ریښتینې پاښت څښتن و. سوچه او سپېځلی وجدان يې درلود، د انسانانو لپاره يې هوسا او ازاد، له وروری او برابری نېکمرغۍ او دوستۍ، حق او حقیقت، پت او عزت څخه ډك ژوند غوښت. د ښو اخلاقو طرفدار و، انساني کرامت او بشري حقونو ته يې زیات ارزښت ورکاوه او پر خلکو باندې يې ښه پېرزوینه درلوده، ځکه خو يې همېشه ټولنیزې نیمګړتیاوې، بې نیاوی، ظلمونه او ستمونه په ګوته کول، له کبر او غرور، ځان ستاینې او ځان منني او ټګۍ برګۍ څخه يې سخته کرکه درلوده.

له بلې خوا پر دې سربېره چې دغه ریالیست او ذره لید لیکوال د ترکیې هېواد له ډېرو اقتصادي او ټولنیزو ارځونو سره اشنا کړم، دده په لیکنو کې مې د خپلې افغاني ټولنې اقتصادي او ټولنیزې نیمګړتیاوې هم کټ مټ د هنداري په څېر تر سترګو شوې ځکه مې وپتېله، چې ددغه ستر او نومیالي لیکوال ځینې طنزونه په پښتو وژباړم، چې له یوه پلوه

پښتـو ژبـه نـوره هـم پيـاوړې شـي او لـه بلـه پلـوه زمـوږ قـدرمن هېـوادوال هـم خـپلې ټـولنيزې نيمګړتيـاوې او د ځينـو د غلګـرو چلبازۍ د عزيز نسين د طنزونو له لارې ووينـي.

(چلباز، عزيز نسين، ميرزا علم حميدي ژباړه، ۱۰_۱۲، ۱۳۸۲ل، (۲۰۰۳ع) پېښور چاپ)

۵_ مـوږ د خـپلې ژبـې د شـتمنۍ لپـاره، د نـړۍ د تجـاربو د انتقـال لپـاره ژبـاړې تـه بنسټيزه اړتيـا لـرو. د اروابنـاد حميـدي د کـار يـو عمـده ارزښـت، يـوه مهمـه ځانګړنـه دا ده، چـې هغـوی د ژبـاړې کـار تـه ډېـره پاملرنـه کـړې ده. لـه ليکلـو آثـارو څخـه يـې ژبـاړل شـوي آثـار ډېـر دي. هغـه دا کـار ځـانخبرۍ (آګاهانـه) ترسـره کـړی دی او د خـپلې ژبـې د غنـا لپـاره يـې لـه نـورو ژبـو کتابونـه راژبـاړلي دي. هغـه د "بدمرغـه ټـاپو" پـه سـريزه کـې پـه دقيقـه توګـه دې موضـوع تـه اشـاره کـړې ده او ټولـو هغـو اړتيـاوو تـه يـې ګوتـه نيـولې ده، چـې مـوږ د ژبـاړې پـه برخـه کـې کـار او زيـار تـه وربولي.

اروابنـاد ميـرزا علـم حميـدي د خپـل ژونـد تـر وروسـتۍ سـلګۍ د کتـاب او قلـم پـه نـړۍ کـې واوسـېد، کتابونـه يـې راپرېښـودل او د خـپلې ژبـې پـه غنـا کـې يـې خپلـه مينـه او خپلـه وينـه شـريکه کـړه. اوس چـې هغـه لـه مـوږ جـلا دی، يادونـه يـې ځلېـږي او مـوږ ټولـو تـه لازمـه ده، چـې د لاځـلا لپـاره يـې د دغـو سـترو کلتـوري_ملي خـدمتونو پـه خـاطر يادونـه او خدمتونـه هېـر

نـه کـړو ، راتلـونکي قـدرمن افغـان نسـلونه بـه یـې پـر قبـر د یـادونو ډیـوې بلـوي، لکـه هغـه چې خـپلې ژبـې تـه، خپلـو خلکـو تـه د خپـل خـدمت پـه خولـو او مینـې او پېـرزوینې او صـداقت پـه ولولـو پـه سختو شېبو کې د علم او معرفت ډیوې بلې کړې وې.

یاد دې یې تلپاتې وي

دکتور محمد علي هوما

د حميدي صاحب ياد

پـــه جرمنـــي کـــې د افغانســـتان د کلتـــوري ودې ټـــولنې لـــه مشـــرتابه څخـــه ډېـــره مننـــه کنـــوم، چـــې د اروابنـــاد حميـــدي صـــاحب ياد په علمي ياد غونډه کې يې ماته هم بلنه راکړې ده.

اروابنـــاد حميـــدي صـــاحب لـــه خپـــل هبـــواد او خلکـــو ســـره بـــې پايـــه مينـــه درلـــوده، د همـــدغې مينـــې پـــه برکـــت و، چـــې پـــه خپـــل ټـــاټوبي کـــې د ډېروپېچلـــو شـــرايطو پـــه منځتـــه راتلـــو ســـره د پښتـــو ادب په بڼ کې د سره ګلاب په شان وغوړېده.

حميـــدي صـــاحب داســـې زړور او باشـــهامته پښتـــون مبـــارز و، چـــې پـــه خپـــل هبـــواد کـــې د روښـــانفکرانو سياســـي غـــورځنګ تـــه يـــې پـــه وريـــن تنـــدي، ســـرښندنې او پـــه بـــې ســـارې ميـــړانې ســـره

هرکلـی ووایـه. د هغـې د پیاوړتیـا پـه لاره کـې یـې هېڅکلـه هـم خپل وس ونه سپماوه.

زه ډېـر کـوچنی وم، چـې حمیـدي صـاحب مـې پېژانـده، د دوی کلـی زمـوږ د ښـوونځي پـه لاره کـې پـروت و. ښـوونځي تـه د تللـو پـه وخـت کـې بـه مـوږ هـره ورځ د دوی د کلـي پـه اړخ کـې تېرېـدو. حمیـدي صـاحب مـې پـه وارو وارو لیـدلی دی، خـو هغـه خـاطره مـې لـه یـاده نـه وځـي، چـې زه پـه دویـم ټولګي کـې وم او زمـوږ ښـوونځی د دوی کلـي تـه مخـامخ د شـمل د تـوی پـورې خـوا تـه د منـدوزیو د سړك پـر غـاړه پـروت و. هغـه وخـت د ښـوونځي ډېـرو ټولګیـو کـوټې نـه لـرلې، ځکـه کـوم چـا ډېـر پخـوا زمـوږ ښـوونځی سوځولی و.

مـوږ د سړك پـر غـاړه د لـوړ او سـورور څینـار سـیوري تـه پـه لوسـت لګیـا وو، چـې ناڅاپـه مـو سـترګې پـر دوو کسـانو ولګېـدې. هغـوی د لښتـي پـر غـاړه زمـوږ خـوا تـه راروان وو. دغـه دوه کسـان یـو ځـوان هلـك او بـل د هغـه مشـر ورور و. مشـر سړي زمـوږ ښـوونکي تـه سـلام واچـاوه او بیـا یـې هیلـه تـرې وکـړه، چـې معلـم صـاحب زمـا ورور میـرزا عـالم خـان کابـل تـه ځـي، هیلـه ده چـې دغـه کوچنیـان د خپلـو کوچنیـو لاسـونو پـه پورتـه کولـو سـره د لـوی خـدای پـه دربـار کـې دعـا ورتـه وکـړي، چـې د ورور ارمـان مـې پـوره شـي. مـوږ لاسـونه پورتـه کـړل او پـه لـوړ اواز مـو ورتـه د زړه لـه کـومې دعـا وکـړه. تـر دعـا وروسـته هغـوی دواړه دکابـل پـه لوري وخوځېدل.

څو کاله وروسته چې لا په لومړني ښوونځي کې وم، له خپلو کليوالو څخه مې واوربدل، چې مېرزا علم خان په هلمند کې مقرر شوی دی. زه په ډېرو شیانو نه پوهېدم، خو دومره مې په یاد دي، چې زمور په کلي کې د حمیدي صاحب همزولي ځوانان به د دوی د لیدو لپاره هلمند او کابل ته تلل او راتلل. د حمیدي صاحب د مېرانې او زیاتې نازونې به یې کیسې کولې. په ډېرو خبرو نه پوهېدم یا اوس رانه هېرې دي، خو دومره مې په یاد دي، چې ډېره هیله مې درلوده، چې زه هم د حمیدي صاحب غوندې یو چېرې په وظیفه مقرر شم. د خپلو کليوالو او همزولو درناوی وکړم، خوشاله یې وساتم، نوي کالي او لونګی ورته واخلم او د خدای پامانی په وخت کې تر کور پورې د موټر کرایه هم ورکړم.

حمیدي صاحب د کلک هوډ خاوند و، هر کار ته به یې چې ملا وتړله، هغه به یې حتماً سرته رساوه.

حمیدي صاحب ته د ژوند مشکلاتو اجازه ورنه کړه، چې لوړو زده کړو ته په منظمه توګه دوام ورکړي، خو د خپل کلک او ښینګ عزم له مخې یې په اولسپالنه، مېرانه او له خلکو سره په ښه چلند او سپېڅلي مینه کې د انسانییت لوړې څوکې ته خان ورساوه. حمیدي صاحب د خپل لنډ ژوند په وروستیو کلونو کې پښتو ادب ته هغه غټ کارونه سرته ورسول، چې عادي انسانان د هغو د سرته رسولو توان نه لري. دوی په ډېره لږه موده کې پېنځه لس کتابونه تالیف کړل او وژباړل او بیا

يې په خپل لګښت سره چاپ کړل. حميدي صاحب پر خپلو ليکنو او تاليفونو باندې په دومره زياتې چټکتيا سره کار کاوه، چې کله خو به يې ان دوه کتابه هم په يو کال کې چاپ او خپاره کړل. د مثال په توګه په ۱۹۹۶ميلادي کال کې يې "دوه مخي کسان" او "ژوړې خبرې" چاپ کړل. په ۲۰۰۱ميلادي کال کې يې "د زړې ادې کيسې" او "د کانړو زړونه" له چاپه راواښستل او په ۲۰۰۳ ميلادي کال کې يې د پښتو ادب ښکلی بڼ د "چلباز" او "بدمرغه ټاپو" په خپرولو سره سمسور او رنګين کړ.

په اوس مهال کې له ما سره د حميدي صاحب ټولې ليکنې نشته، چې هراړخيزه او بشپړه رڼا ورباندې واچوم، خو د هغه څه په هکله چې په واک کې مې دي په پوره ډاډ سره ويلای شم، چې ځوان نسل ته سمه او په زړه پورې لارښوونه، له خلکو سره سم چلند، د هغوی د ربړونو او زياړونو واقعي او ريالستيک بيان د حميدي صاحب د ليکنو اصلي زړې جوړوي. پر دې سربيره د حميدي صاحب د ليکنو ځانګړتيا په دې کې ده، چې خپلې ليکنې، ژباړې او ټولونې يې له ټولنيزې اړتيا سره سمې په مساعدو او مناسبو وختونو کې ليکلې او خپرې کړې دي. په خپله او يا د نورو په خوله يې د خپل هېواد د اوس مهال د کړکېچنو شرايطو مختلف اړخونه په روانه، پسته او خوږه پښتو ژبه راسپړلي دي. د حميدي صاحب آثارو ته، چې ژور پام وکړو، باور پيدا کوو چې د خپلو وروستيو ليکنو په

بشـپړولو سـره يـې د ادب او هنـر د پوخـوالي څـوکې تـه پـه ډېـرې چټکۍ ځان رسولی دی.

حميـدي صـاحب لـه ۱۹۹۶ څخـه تـر ۲۰۰۱ مـيلادي کالـه پـورې د "وری څنګـه لېـوه شـو"، "دوه مخـي کسـان"، "ژوړې خبـرې" او "د بريـاليتوب لار" آثـارو پـه ژبـاړه، ټولـونې او تـاليف لاس پـورې کړ. دوی ددغـو آثـارو پـه خپرولـو سـره لـه يـوې خـوا د لوسـتونکيو پـام د وخـت د خـورا مهمـو مسـالو پـر خـوا راوګرځـاوه او لـه بلـې خـوا يـې د ژورو خبـرو پـه اورولـو او زده کولـو سـره هغـوی تـه د بريـاليتوب لار وښـوده. حميـدي صـاحب پـه ۲۰۰۱ مـيلادي کـال کـې د زړې ادې پـه کيسـو کـې هغـه څـه بيـان کـړل، چـې د هغـه وخـت پـه شـرايطو کـې د پوهولـو مناسـبه لاره ورتـه ښکارېدلـه، خـو پـر همغـه کـال يـې "د کـانو زړونـه" پـه ليکلـو سـره خپـل ادبـي مهـارت داسـې کچـې تـه لـوړ کـړ، چـې د حميـدي صاحب دغه اثر ته په حقه سره د ادبي شهکار نوم ورکولای شو.

حميـدي صـاحب پـه ۲۰۰۳ مـيلادي کـال کـې د "چلبـاز" پـه نـوم د نـامتو ترکـي طنـز ليکـونکي عزيـز نسـين د اثـر پښتـو ژبـاړه خپـره کـړه. دا داسـې وخـت و، چـې د پښتنـو د نـامتو شـاعر او اديـب سـليمان لايـق پـه وينـا افغانسـتان د يـوه ژور او هراړخيـز اخلاقـي طـاعون پـه تبـه کـې سـوځېده. پـه رښتيـا چـې حميـدي صـاحب دغـه اثـر د خپـل وخـت لـه غوښتنـو او شـرايطو سـره سـم هېوادوالـو تـه وړانـدې کـړ. پـه همدغـه کـال کـې حميـدي صـاحب د "بدمرغـه تـاپو" پـه نـوم د جنـايي کيسـې د ژبـاړې پـر خپرولـو

بریـالی شـو. پـه دې اثـر کـې ژوړې ټـولنیزې لانجـې پـه داسې هنـري توګـه بیـان شـوي دي، چې لوسـتونکي نـه پرېږدي لـه کتـاب څخـه سترګې پورتـه کـړي، نـو ځکـه یـې تـر پایـه پـه خـورا زیاتـه مینـه او علاقه لولي.

انسـان یـو ټـولنیز موجـود دی، چې لـه همنوعـانو سره ګډ ژونـد او معاشـرت تـه حیـاتي اړتیـا لـري. هغـه څـوك همېشـه پـه خپـل ژونـد کـې بریـالی وي، چې لـه نـورو سره د چـال چلنـد پـه هنـر پـوه وي. دغـې هنـر تـه هـر وخـت او هـر چېـرې اړتیـا ده، خـو د افغانسـتان د اوس مهـال پـه شـرایطو کـې تـر بـل هـر وخت هغـې تـه زیاتـه اړتیـا لیـدل کېـږي. حمیـدي صـاحب دغـه اړتیـا تـر ډېـرو ادیبـانو او سیاسـتوالو ډېـر ژر، سـمه او پـه خپـل وخـت درك کـړه. دې مـوخې تـه د رسـېدو لپـاره یـې "د بـري راز" پـه نامـه د پروفیسـور جـان مورګـان ټـولنیزه اړوایوهنـه پـه خـورا مناسـب وخـت کې وژباړله.

هغـه څـوك چې پـه ربنتینـي توګـه سیاسـت کـوي، لـه نـورو سره د چـال چلنـد د هنـر لـه زده کولـو څخـه پرتـه ډېـر لـږ بـرې لاسـته راوړای شـي. د نومـوړي اثـر پـه خپرولـو سـره حمیـدي صـاحب لوسـتونکیو تـه د خپـل هېـواد د خـدمت د عملـي لارو چـارو داسې هنـر وړانـدې کـړ، چې پـه ربنتیـا سره هر چاتـه پـه خپلـو چـارو کـې د بریـالیتوب عملـي رازونـه ور پـه ګوتـه کـوي. دا اثـر چـې پـه ډېـره روانـه او خـوږه پښتـو ژبـه هېوادوالـو تـه وړانـدې شـوی دی، د هـر چا لپـاره دومـره ګټـور دی، چې زه بـاور لـرم هـر لوسـتونکی بـه یـې

په خپلو ورځنيو چارو کې د هر بري له تراسه کولو سره سم د حميدي صاحب پاك روح ته دعاګانې کوي. دا چې له خلکو سره معاشرت او چال چلند همېشنۍ بڼه لري، نو د حميدي صاحب نوم به هم د زياتې مننې له کبله د تل لپاره د رښتينو افغانانو د ژبو پر سر پاتې شي.

حميدي صاحب د وروستي ځل لپاره د "څو سياسي خبرې او د افغانستان بيارغونه" په نوم پېنځلسم او وروستی کتاب د افغان سياستوال او پيښوړي ادیب عبدالکريم ميثاق د اثر پښتو ژباړه هېوادوالو ته وړاندې کړه. په دې اثر کې د افغانانو مېړانه، سپېځلتيا او د هېواد د اولسونو ترمنځ رښتينې دوستي نغښتې ده. په دې ليکنه کې د خپل هېواد د بيارغونې په هکله په ډېره ساده او روانه ژبه ژورې سياسي خبرې کېږي، چې د اوسني وخت له شرايطو او اړتيا سره بشپړ سمون لري. دا اثر د بهرنيانو پټو توطيو او ناوړو موخو ته د افغانانو مخ رااړوي او بيا يې د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو لپاره د ګران هېواد رښتيني ابادۍ ته رابولي.

کله چې حميدي صاحب ددغه اثر لومړنۍ چاپ شوې نسخه ماته راولېږله، نو په ډېرې مينې او علاقې سره مې ولوسته. حميدي صاحب ته مې د تليفون په کړښه د زياتو بريااوو هيله وکړه او له حميدي صاحب څخه مې پوښتنه وکړه، چې تر دې وروسته د څه شي د ليکلو تکل لري؟

دوی راته وويل، چې :مخې ته مې ډېرې موضوعګانې پرتې

دي، نـه پوهېـږم او اریـان پـاتې یـم، چـې لومـړی پـر کومـه بانـدې پیل وکړم؟

زه بـاور لـرم، چـې حمیـدي صـاحب غوښتـل، چـې ډېـر اړیـن شـیان هېوادوالـو تـه وړانـدې کـړي، خـو نـابېره یـې هغـه ټول شـیان د راز پـه څېـر لـه ځـان سـره پـټ وسـاتل، پرتـه لـه دې چـې مـوږ پـرې خبر شو، ډېر لیرې ځای ته په اوږده سفر روان شو.

روح دې یې د تل لپاره ښاد او ارام وي

عبدالواحد نظري

حميدي صاحب او دده د طنز ژبه

زه دلتـه پـه دې يادونـه کـي نـه غـواړم د خـداى بښلـي حميـدي صـاحب ليکـنې تـه کـره کتنـه وکړم او نـه هـم دا صـلاحيت پـه ځـان کـې ويـنم، زه يـوازې دلتـه غـواړم، چـې خپـل ارادت د هغـه ادبـي مقـام تـه، چـې پـه درد او درېـغ د هغـه د مـرينې پـه وخـت کـې نـه وم، په دې پرتمينه غونډه کې ځرګند کړم.

ستاسـې پـه بـاور راسـي او يـا نـه کلـه چـې د خـداى بخښلـي حميـدي صـاحب لـه مرګـه خبـر سـوم، زمـا هېـڅ بـاور نـه راتـه، چـې حميـدي صـاحب دې پـه حـق رسـېدلى وي. مـا بـه لـه حميـدي صـاحب سـره پخپـل ټـول عمـر کېـي څـو واړه ليـدلي وي يـا پـه کابـل کـې د خوشـال د فرهنګـي ټولنې پـه غونـډو کـې او يـا هـم دلتـه پـه

اروپايي کولتوري غونډو کې، خو هر وار چې به مې وليده، په ډېره مينه به زما و خوا ته راته او له مهربانۍ او صميميت نه په ډکو خبرو سره به يې يوه ډالۍ هم زما لپاره درلوده، کله يو دده نوی کتاب او يا هم د ډډوالو د مينې ډکه موسکا.

دده ارام کرکټر او دده بې ساري مهرباني زما باور راڅخه بېګانه کړ، چې حميدي صاحب دې مړ وي، ځکه تراوسه په دې باور يم، چې خدای ج يوازې زاړه کسان، چې عمر يې خوړلی وي او يا هم بدکاران وژني، چې ناروا وې يې کړې وي، نو حميدي صاحب خو مهربې ته لازار نه و رسولی او زوړ هم نه و او غبر له دېنه ده خپلو خلکو او هېواد ته د خدمت مټې رانغښتې وې او ډېر څه يې لا د ويلو لپاره درلودل. دده ټول عکسونه، چې ما ليدلي دي، ټول يې د مېز تر شا د ليکلو په حالت کې دي، نو دا په دې مانا ده، چې خدای بخښلی حميدي صاحب ټول عمر د مېز تر شا او قلم په لاس ناست دی.

د حميدي صاحب او دده ژوند او آثارو په هکله دوستانو ډېر څه ويل او لابه يې وايي، خو د هغې وظيفې او تقسيماتو له مخې ماته د حميدي صاحب د طنزيه آثارو په هکله ويل سوي وو، چې څه ووايم.

لومړی خو حميدي صاحب له طنز او طنزي ليکنو سره ډېره مينه درلوده او همدا دده مينه وه، چې بې شمېره طنزي اثار يې پښتو ژبې ته وژباړل لکه ژوبنې، د ټوکو خورجين، بختوره پېښو، دوه مخې کسان، وری څنګه لېوه شو او اداسې نور...

کـه څـه هـم پـه يـوه ژبـاړه کـې مفهـوم او جملات د بـل او د بلـې ژبـې وي، خـو ددې جملـو لپـاره کلمـات پـه کـار دي، چـې پـه هغـه پېمانـه لکـه پـه اصـلي ژبـه کـې وزن ولـري او معمـول وي، نـه دا چې هره کلمه لغوي وژبـاړل شـي، نـو دلتـه د حميـدي صـاحب هنر پـه دې کـې دی، چـې دې لـه طنزيـه اسـرارو سـره پـه پـوره ډول بلد دی، ځکـه د طنـز او شـعر ژبـاړه ترڅـو ژبـاړن پخپلـه طنـاز او شـاعر نـه وي، امکـان نـه لـري، چـې پـه دقيـق ډول ترسـره سـي. زه مطمـين يـم، چـې حميـدي صـاحب بـه حتمـاً مسـتقل طنزونـه ليکلـي وي، خـو دا چـې تـر مـا نـه دي رارسـېدلي دا زمـا بـې خبـري ده. ولـې دلتـه دا مطـرح نـه ده، چـې حتمـاً بايـد څـوك طنـز وليکـي، چـې طنـز ليکـونکی ورتـه ووايـو، زه تـر ډېـره حـده تعريفـو تـه هـم معتقـد سـړی نـه يـم. د حميـدي صـاحب پـه ټولـو آثـارو کـې کـه ژبـاړه ده او يـا ددە خپـل ليکلـي آثـار، ددە زيـړه او نـيښ داره ژبـه، چـې پـه عـين سـادګی کـې ډېـره خـوږه ده لـه ورايـه څرګنـدېږي. لکـه ددە د زړې ادې کيسـې کـه پـه ظـاهره تـاريخي او خيـالي کيسـې يـې سـره پېيلـي دي، خـو هـر وار چـې کيسـه تـر يـوې نقطـې او ډډې پـورې رسـېږي او يـا پـه بلـه مانـا زړه ادې خولـه وتـړي، بيـا نـو ډډوال خوسـتی خپـل د زيـړې ژبـې شـربت او د نابـاوری خـواړه زهـر ورپاشـي، ترڅـو دا کيسـې د خپـل تـاريخي ارزښـت ترڅنګ خپـل هنري او ذوقي بعد او حلاوت هم ترلاسه کوي.

لايق صاحب ددە د زړې ادې د کيسو په سريزه کې ليکي:

"حميـدي صـاحب غـواړي د تـاريخي پېښـو هغـه کـړی چـې دی

یـې د خپلـو لیکنـو لپـاره د اسـتدلالي پـایو پـه توګـه کـاروي، د طنزونـو پـه یـوه مـرغلین مـزي باندې وپیـي او پـه دې توګـه پـه هغـه پـاروونکیو بحثونـو بانـدې د طنـز سـیوری خپـور کـړي، چـې محتسب غوسه کولای سي."

همـدا راز هبوادمـل صـاحب هـم د همـدې کیسـو پـه سـرپانو کـې لیکي:

"زمـا پـه پوهـه پـه دې کیسـو کـې ډېـر درانـه موضـوعات یـې پـه سـاده ژبـه پـه حکـایتي انـداز کـې، چـې د طنزونـو مـزاح مالګـه هـم لري، خپلو خلکو ته وړاندې کوي".

روح یې شاد او یاد یې تل تر تله

پوهنوال دوکتور عبدالخالق رشید

حميدي:

د خوشال فرهنګي ټولنې يو خورې ياد او يوه نه هېرېدونکې ملتيا

ګرانو دوستانو، قدرمنو ليکوالو، خوښدو او ورونو!

اروابنـــاد حميـــدي د افغانســـتان د ليکوالـــو او ژبـــاړونکيو پـــه ډله کې لـه هغـو څېرو څخه يـو و، چې په خپل وخت کې يې تر خپـل تـوان هـم زيـات پښتـو ژبـې تـه نـه هېرېـدونکی ادبـي کـار وکړ، داسې چې کـه مـوږ هر يـو پـه فکـري او مـادي لحـاظ دومـره زړه وکـړو، فکـر کـوم چـې پـه ډېـرو برخـو کـې بـه د خپلـو ادبـي هـدفونو پـه لـور د پـرمختګ پـه تـرڅ کـې پـه پـوره ځيرکـي سـره پاخـه ګامونـه اوچت کړو. يـو څه چې بايـد پـه پـام کې ولـرو، دا دي چې د ادبـي هڅـو او کـارو تـرڅنګ پـه ځينـو وختـو کـې د ښـه نيـت

او پوره لـورينې پوښتنـه هـم پـه ځـانګړې توګـه د يـادونې وړ ده، پـه دې چـې دغـه تکـل د راتلونکيـو نسـلونو او راتلونکيـو هـدفو پـه لـور زمـوږ او نـورو کـار ډېـر اسـانه کـوي، چـې اروابنـاد حميـدي دا ځانګړنـه درلـوده، چـې تـل بـه يـې يـاد لـه مـوږ پښتنـو ليکوالـو سـره تلپاتې وي.

زمـا او حميـدي صـاحب اړيکـې د شـپېتمې لسـيزې لـه پيلـه راپيـل شـول، سـره لـه دې چـې پـه هغـو کلـو کـې دی پـه رسـمياتو کـې زيـات بوخـت و، خـو لـه دې سـره سـره بـه مـو هـم نـه پرېښـود او ادبـي باندارونـه بـه مـو سـره کـول. پـه پيـل کـې بـه يـې لـه مـا سـره سياسـي خبـرې کـولې، خـو وروسـته مـو پرېکـړه وکـړه، چـې د هنـدوانو پـه وينـا لـه دغـو بېکـاره (بـې ګټـو) خبـرو سـره تېـر شـو او همداسـې وهـم شـول. يـو وخـت داسـې هـم راغـی، چـې دی بـه پـه اوونـۍ کـې يـو ځـل پوهنتـون تـه راتـه او هلتـه بـه مـو لـه نـورو دوسـتانو سـره باندار کـاوه. وروسـته لـه هغـه يـې چـې د ډېـر مينـه نـاک زوی، چـې د فارمسـي پـوهنځي محصـل و، ويـر وليـد ويـل بـه يـې چـې نـورې مـې پوهنتـون تـه پښـې نـه درځـي، بيـا بـه مـوږ ورتلـو او ناسـتې ولاړې بـه مـو سـره کـولې. زمـوږ د ناسـتو پاسـتو او باندارونـو مېنـه د ګـران ټکـور صـاحب کـور و، چـې هلتـه بـه سـره کېناسـتو او پـه زيـاترو ناسـتو کـې بـه مـو اروابنـاد روهـي صـاحب هـم برخـه اخيسـته، چـې هغـه بـه پـه ډېـرو برخـو او ډېـرو مسـايلو کـې زمـوږ افـراط او تفـريط دواړو لـه کـړليچونو ژغورندوی او څارونکی و.

لـه هغـه وروسـته، چې شـپېتمه لسـيزه مـخ پـه وروسـتيو شـوه، زمـوږ ځوانـانو د خوشـال فرهنګـي ټـولنې د جوړولـو تکـل وکـړ، چې لـه خپلـو مشـرانو سره پـه پـوره تفـاهم کې پـر دغـه کـار بانـدې بريـالي هـم شـول. زمـوږ لارښـوونکي پـه دغـه سـتر ملـي کـار کـې اروابنـاد اسـتاد رشـاد، اروابنـاد اسـتاد روهـي، سـرمحقق دوسـت شـينواری، قـدرمن حـافظ صـاحب، کانديـد اکاډميسـين عطـايي صـاحب، اسـتاد زيـار، اروابنـاد منـدوزی، هېوادمـل صـاحب، درنـه ليکوالـه او مشـره خـور معصـومه عصـمتي او يـو زيـات شـمېر نـور وو، چې تراوسـه پـوړې پـه دغـه ګډ بهيـر کـې قلمونـه چلوو او خپلې ژبې ته د خپل وس په اندازه کار کوو.

اروابنـاد حميـدي د خوشـال فرهنګـي ټـولنې لـه هغـو غړيـو څخـه يـو و، چې تـر ډېـرې انـدازې ددې پـه ملتيـا مـوږ پـه دې بريـالي شـو، چې ډېـرې مـادي سـتونزې مـو د کـارونو خنـډ نـه شـي، دی و چې د نـورو دوسـتانو پـه ملتيـا يـې يـو شـمېر هغـه فرهنګپـال پښتانـه سـوداګر، چې پـه زړه پـورې مـادي امکانـات يـې درلـودل، د پښتـو خـدمت تـه راوهڅـول، چې پـه رښتيـا هـم هغـو مـوږ تـه داسې لاسونه راکړل، چې د هغـه وخت پـه ډېـرو لـږو اسـانتياوو سـره مـو د خپـل ملـي او فرهنګـي رسـالت پـه سـرته رسـولو کـې پـه زړه پـورې ګامونـه پورتـه کـړل او لـه پښتـو سـره د پښتنـو بـډايو او ملـي سـوداګرو د پـاملرنې شـعور مـو راژونـدی کـړ، چې پـه دغـه برخـه کـې د حميـدي صـاحب ونـډه پـه ځانګړې توګـه د يـادونې وړ ده. زمـا ښـه پـه يـاد دي، چې يـو وخـت يـې يـو

ملي سوداګر ته په خندانه ژبه په تلفون کې وويل:

"په دې دومره دنيا، چې د پښتو ژبې سرلوړي ورسره ونه کړي، څه کوې؟ که دې پيسو ته وکتل والله که دې څوک عزت وکړي او که دې له پيسو سره لږ د پښتو خدمت هم وکړ، نو ټول به دعاوې درته کوي. د پښتو ضمانت خو يوازې هغوی چې يو څه پرې ليکي نه دی کړی، دا خو زما و ستا د مور ژبه هم ده، چې له دغې لارې له هغې سره مرسته کولای شو"

اروابنـاد حميدي ددغې لوی خدمت ترڅنګ خپل قلم هم له لاسه ونه غورځاوه آن چې په خپل وخت کې يې خپلې ډېرې ښې ژباړې د ټولنې له لارې خپرې کړې. لکه (بختوره پښتو) چې لکه د ژوبنې د ژباړې په شان يې اغېز په هغو شپو کې خورا زيات و. څه شی چې دده د يو شمېر ژباړو د خپرولو په برخه کې د پاملرنې وړ وو، هغه دا وو چې ده په دغه کار سره ځان د يوې ادبي ازادۍ په لور چې له افراطي حرکت سره نه وه ملګرې، خوځاوه. مانا دا چې په خورا ملايمت کې يې هغه څنه په خپله ژبه کې خلکو ته وړاندې کول، چې يو شمېر يې د ويلو توان نه درلود او يو شمېر نورو يې د لوستلو او اوربدلو. د بختورې پيښو ليکوال په دې شک نشته، چې د ختيزې ليکوالۍ له سرلارو ليکوالو څخه ګڼل کېږي، دا هماغه ليکوال و، چې ويل به يې ما په خپلو ليکلنو سره د اوسنۍ ترکيې د اند و ژوند د جوړښت د بنسټ ډبره کېښوده.

د حميدي ژباړې په خپل وخت کې په ډېرو برخو کې ساده

او بـې مـوخې نـه وې او خپلـه ننبـه يـې پـر هغـو باندې پـه خپـل وخت کې په پوره ځیرکۍ سره ویشتلې ده.

بلـه موضـوع، چې زه يې لږ بايـد دلتـه پـه څرګندني ډول ووايـم هغـه لـه خوشـال فرهنګـي ټـولنې سـره د اروابنـاد حميـدي اړيکـې دي.

ښـايي يـو شـمېر دوسـتانو تـه دا خبـره د نـه منلـو وړ وي، چـې خوشـال فرهنګـي ټـولنې پـه خپـل وخـت کـې د افغانسـتان پـه فرهنګـي حلقـو خـو لاځـه کـوې، چـې د هغـه وخـت سياسـي جوړښـت يـې لـه يـوه حېرانـوونکي حالـت سـره مخـامخ کـړ. هسـې خـو تـر خوشـال ټـولنې دمخـه نـورې ټـولنې هـم پـه کابـل کـې جـوړې شـوې وې، چـې پـه يـو نـه يـو ډول يـې پـه رمـز او راز باندې هـر څـوک پوهېـدل، جوړېـدې او ورانېـدې بـه، پـه دې چـې د دوی زيـاترو خپلـو ويـاړلو هـدفو تـه د رسېدو لپـاره ويـاړلې وسـيلې نـه کـارولې، ټولنـه بـه د يـوه فرهنګـي ويـاړ پـه نامـه جـوړه شـوه، خـو وروسـته يـې پـه نـورو کـارو لاس پـورې کـاوه او خپلـه لار بـه تـرې ورکـه وه. پـه دې چـې هغـوی لـه دغـې لارې د يـوه منفـي تمايـل او سياسـت تګـلاره ځارلـه. زمـوږ ټولنـه چـې پـه ربښتيـا هـم فرهنګـي وه او پـه سياسـي لاره کـې مـو ګامونـه، نـه پورتـه کـول، بـرعکس ټولـو فکـر کـاوه، چـې دوی سياسـت کـوي، هغـه څـه چـې تراوسـه هـم مـوږ اهميـت ورنـه کـړ او نـه مـو پـه دغـه ډګـر کـې د ملـي ګټـو ضـد کـوم سياسـت ملاتـړ وکـړ. يـو ځـل پـه هغـه مهـال زه يـوه چـارواکي، چـې اوس هـم ژونـدی دی او زه يـې اوس هـم پـه

درنښت مـنم او ددې وړ هـم دی، خپـل دفتـر تـه ورغـونښتی وم، زمـوږ د ټـولنې پـه بـاب خبـره يـاده شـوه، مـا و تـه ووېـل، چـې ستاسـې ډار ولـې لـه نـور چـا نـه دی چـې پـه مـوږ پسـې پلتـه او څـراغ يـئ؟ پـه مرکـزي کمېټـه او سياسـي بيـرو کـې هـم د هغـې پـه اړه انـدېښنې ښيـئ؟ زه نـه پوهېـږم، چـې د زړه يـې ويـل کـه بـه يـې ټوکـه کولـه، خـو دومـره وه چـې دا خبـره يـې دده پـه وينـا پـه مسوولیت سره راته وويل، چې:

"تـه ځـوان يـې پـه ډېـرو خبـرو دې سـر نـه خلاصـېږي، نـر مـې بولې چې درته ثابته کړم سي آی ای مو لاړښوونه کوي؟"

ماورته وخندل او په خورا آرامه لهجه مې ورته وويل، چې:

"صـاحب دا بـه ډېره ګرانـه وي، چـې يـو څـوک د کـي جـي بـي پـه منګولو کې ژوند کوي او هغه دې سي آی ای ته هم کار وکړي.

د مېـز لـه څنګـه يـې ويـزټ ډولـه کارتونـه راواېسـتل پـه لاس کـې يـې سـره وخوځـول او راويـې ښـودل، چـې کارتونـه يـې دروښـيم؟ مـا نـور څـه نـه شـوای ويـلای يـوازې مـې هيلـه ورځخـه وکـړه، چـې کـه زمـا کـارت پکـې وي. هغـه پـر مـا وسـپاره، خـو دی راته په قار غوندې شو او ما نوره خوله چوپه ونيوه.

مـوږ پـر ځـان نـه وو خبـر، چـې مـوږ هـم يـوه نظـام تـه پـه هېـڅ کـې يـو سـرخوړی وو. هيلـه مـن يـو چـې يـوه ورځ بـه يـو څـوک پـه دغـه بـاب مـوږ لـه ډېـرو نـورو انـدېښنو هـم خبـر کـړي او مـوږ بـه پـه دې ويـاړمن کـړي، چـې مـوږ يـو وخـت د نوميـالي خوشـال د ويـاړ پـر دغـه فرهنګـي ميـراث بانـدې لـه يـوه مغلـي مـاتم سـره پـه معقولـه،

منصـفانه او د نـه زورزیـاتي (عـدم تشـدد) پـه تګـلاري سـره د خبیـرو لارښوونکیـو لکـه اسـتاد رشـاد او اسـتاد روهـي (چـې د ټولنې مشـر و او مـوږ یـې تراوسـه هـم تلپـاتې اروا او لارښـوونې پـه خپلـه مشـرۍ منـو) او نـورو غړیـو پـه مرسـتې د بیـان او ایمـان د آزادۍ پـه لـور ګامونـه واخیسـتل او لابـه هڅـه وکـړو، چـې د نـه زورزیاتي د هغه میراث نور هم ملاتړ اوسو.

بـل وار مـوږ د ځوانـو ډاکترانـو ټولنـه د خوشـال ټـولنې پـه جوړښـت کـې پرانسـتله، خـدای شـته چـې پـه دغـه تـرڅ کـې زمـوږ ځوانـو ډاکترانـو چـې پـه اصـل کـې د ټولنې لـه بنسټوالو څخـه وو، لکـه ډاکټـر صـاحب خوشـال، ډاکتـر صـاحب ابـراهیم شـینواری او پـه لسـګونو نـورو د طـب پـوهنځي محصـلینو او اسـتادانو دومـره منډې وکـړې، چـې نـه یـې شـپه پېژندلـه او نـه ورځ، ترڅـو چـې مـوږ ددې لپـاره تیـار شـو، چـې بایـد د کابـل پـه طـب پـوهنځي کـې چـې هغـه مهـال پـه طبـي انسـتیتیوت سـره یادېـده. د پنځوسـو (۵۰۰) مېلمنـو پـه رابلـنې سـره د ټـولنې طبـي څانګـه پرانیـزو. مـوږ ډاډه وو، چـې اوس خـو د ډاکتـر صـاحب نجیـب الله د روغـې جـوړې شـمال پـه یـوه او بلـه خـوا کـوږ ووږ کېـږي، مـوږ هـم کـولای شـو، خپلـه دغـه غونـډه پـه بـرې او پـرتم سـره جـوړه کـړو. مـوږ ډېـر خوشـاله وو، خـو یـوه دوه ورځـې لاپـاتې وې، چـې د انسـتیتیوت مقامـاتو زمـوږ اعلانونـه وشـکول او راتـه ویـې ویـل، چـې بـاغلي سـرابي صـاحب امـر کـړی، چـې ددې ټـولنې غونـډه بایـد دلتـه جـوړه نـه شـي. زمـوږ د ځوانـانو چغـې تـر ټولـو مسـوولو مقامـاتو ان

تـــر ډاکتـــر صـــاحب نجيـــب الله او هـــاتف صـــاحب پـــوري هـــم ورسـېدې، خـــو دا چـې د سـرابي تـر خولـه د بيـان د آزادۍ ضـد خبره د يـو چـا پـه تحريـك وتلې وه، اوس د هغـه قـانع کـول ناشـوني وو. يـــوه شـــپه دمخـــه اســـتاد روهـــي او حميـــدي صـــاحب ډېـــر انـدېښمن وو، خـو چـې مـا ورتـه وويـل، چـې خيـر پوهنتـون او طـب دومـره سـره لـري نـه دي، مـوږ د خـپلې غونـډې غـم پـه پوهنتـون کـې خـوړلی دی. لـه ډاکتـر صـاحب خوشـال او اسـماعيل جـان سـره مـا خبـره جـوړه کـړې او يـوه قـانوني لاره مـو مونـدلې، ان شـاء الله چـې خـدای د حقـې لارې مـل دی، هرڅـه بـه جـوړ شـي. بيـا يـې يـو څـه تسـل وشـو. زمـوږ چغـو ځـای ونـه نيـو او دې نتـيجې تـه ورسـېدو، چـې څـوك زمـوږ مـلا نـه تـړي او نـه بايـد لـه چـا نـور دا اميد وکړو.

زه هغـــه مهـــال د پوهنتـــون د فرهنګـــي شـــورا رئـــيس وم، فرهنګـــي شـــورا دا واك درلـــود، چـــې لـــه رسـمي او غيـر رسـمي فرهنګـي ارګـانو سـره ګډې غونـډې ولـري. مـا دوی تـه همدغـه قـانوني لاره پـه ګوتـه کـړه، پـه سـبا يـې ان د ورځـې لـه سـره ويـاړلی اسـتاد روهـي او حميـدي صـاحب راغلـل، دوی فکـر کـاوه چـې دولـت (سـرابي صـاحب) ښـايي پوهنتـون تـه هـم دا امـر صـادر کـړي، مـا ډاکتـر عنايـت تـه چـې د پوهنتـون رئـيس و، دا خبـره کـړې وه، چـې داسـې يـو کـار شـوی، هغـه راتـه وخنـدل او راتـه ويـې ويـل:

"زه د هـر چـا زور لـرم، خـو سـتا زور نـه لـرم، فرهنګـي شـورا

خپلواکه ده، ټول مخالفين دې په کې راټول کړي، هر څوک خپلې په کې وايي د خوشال ټولنې ډاکټران دې هم په کې وي... ته پوهېږې کار دې، له خپل واکه کار واخله، که څه ستونزه پيدا شوه، بيا په سره ګورو. زه سبا خارج ته روان يم، زما پرځای علمي معاون صاحب درسره بوځه".

ما، استاد روهي او حميدي صاحب د غرمې ډوډۍ زما په دفتر کې (د پوهنتون کتابتون) کې وخوړه. د ډاکټر صاحب عنايت خبره مې ورته وکړه، پر استاد روهي باندې ډېره ښه ولګېده او راته ويې ويل:

"زما اوس باور راغی، چې په پوهنتون کې د آزادۍ شمال لګېدلی دی".

مورږ هغه غونډه په پرتمينو مراسمو سره د پوهنتون په اډيټوريم کې پرانسته، مابنام د اوو بجو په خبرو کې يې خبر په مفصله توګه خپور شو، خو په اتو بجو کې بيا د خوشال فرهنګي ټولنې د طبي څانګې خبر ګرده سره خپور نه شو.

حميدي صاحب په لاره کې په موټر کې وويل، چې تر دوو ژرندو خو ووتو، دريمې ته دې خدای خير پېښوي، خو روهي صاحب ورته وويل، چې:

" مورږ د ديموکراسۍ خلاف عمل نه دی کړی، که څوک زمورږ مخنيوی کوي مانا يې دا ده، چې دوی په ديموکراسۍ باندې ايمان نه لري او لوبې به ورسره کوي".

مورږ هغه غونډه جوړه کړه، په سبا يې زه لا دفتر ته نه وم

رسېدلی، چې علمي معاون صاحب وارخطا په مخه راغی او راته ویې ویل، چې له جمهوري ریاسته تلیفون راغلی و، چې په پوهنتون کې خپلسري غونډې جوړېږي، بیا مې هغه په هرڅه ملا کړ او د فرهنګي شورا لایحه مې ورته وویله، ترڅو چې یو څه ډاډ یې وشو.

لالس بجې نه وې شوې، چې معاون صاحب بیا وروغوښتم او هغه یوه کاپي یې راکړه، چې نور به په پوهنتون کې داسې غونډې نه جوړېږي، چې بیا کله هم فرهنګي شورا داسې لیکونو ته اهمیت ورنه کړ او مور به خپلې غونډې هماغسې په خپلې خپلواکۍ سره جوړولې.

له دغې اوږدې کیسې څخه مې هدف دا و، چې اروابنـاد حمیدي په دغو ټولو پښښو کې زمور داسې لاس و پښې و، چې د هغه ونډه او منډې ترڅې په هېڅ ډول د خوشال ټولنې په فعالیتونو کې له پامه نه شي لوېدای. مور د هغه له فکري او معنوي مرستو او مشورو رانیولې ان له شخصي ترانسپورتې اسانتیاوو څخه د ادبي فعالیتونو په ترڅ کې برخمن شو. همدا وه، چې کله به مور د کومې غونډې او ادبي ناستې خبره کوله، ده به یې ټول اړخونه او ټولې اسانتیاوې یوه یوه راته ووې او مور ته به یې داسې ډاډ راکړ، چې استاد روهي به غږ پرې وکړ:

"مور چې تا لرو، غم نه لرو..."

په پای کې په دغه باره کې یوازې دومره وایم، چې زمور

ټولنې او د هغې هر غړي لکه د حميدي صاحب په شان، چې دی يې مالي مسوول و، په خپل وار ددغه فرهنګي او ملي هدف په ترڅ کې دومره څه ترسره کړي، چې پر هغو باندې بايد د کالنيو يادګاري لکچرونو په ترڅ کې خبرې وشي.

اروابنـاد حميدي لـه هغـو تلپـاتو خوشـالانو څخـه يـو دی، چې خوشال ټولنه د دوی د هيلو او هڅو يو ملي او فرهنګي يادګار دی او ان شاء الله چې د دوی ددغه هدف لپاره به متې راونغاړو او په دې هيله به وو، چې يوه ورځ د اوسنيو په لسګونو ټولنو غړي به ددې لپاره لاس په کار شو، چې د پښتنو، پښتو ژبې او پښتنې افغاني تمدن د هر اړخيزې پالنې لپاره به له دغو وړو وړو کورګيو سره تېر او يوه داسې واحده ټولنه به د خوشال پوهنې او افغان پوهنې پر علمي وړتياوو سره جوړ وو، چې په ټوله نړۍ کې زمونږ د اند او ژوند علمي او اکاډيميک ارزښتونه او د پوهې مشالونه بل وساتي.

خوشال به ويل:

پښتانه چې نور څه فکر کا ناپوه دي
بې د تورې خلاصی نشي په بل کار

د نه هيرېدونکي حميدي اروا دې بنساده وي

افضل تکور

د اروښاد حميدي ناچاپو
آثارو ته يوه لنډه کتنه

څوک ماښام حرکت وکړي څوک سهار ځي
"د يـــارانو کـــډې گور تـــه وار په وار ځي"

درنـو دوسـتانو! دا دی نـن بيـا هـم د خپـل هېـواد د معاصـر ادبـي بهيـر د يـوه پيـاوړي ليکـوال، ژبـاړونکي او شـاعر د ويـر پـر گـدی ناسـت يـو، د هغـه پـر ناڅـاپي مړينـه خـپلې اوښکـې تويـوو. پـه خپلـو اوښکـو او سـلګو د هغـه يـاد کـوو. د هغـه د ژونـد او د هغـه د ليکنـو ننـداړې تـه تـم کېـږو او پـه خپلـو ويرجنـو سـترګو د هغه روح ته د عقيدت ګلونه وړاندې کوو.

کلـه چـې د اروښـاد حميـدي صـاحب نـوم اخلـم، نـو سمدلاسـه

مې ډېرې خبرې ډېرې لیکنې ډېرې ګروېږونې، خاطرې په ذهن کې تداعي شي. ډېرو ته مې فکر یوسي، ډېرو پېښو او ډېرو کیسو ته د غم او زغم اوښکې تویې کړم او دا په دې، چې زه فکر کوم په دې ناسته غونډه کې تر ټولو زیات، زه له حمیدي صاحب سره نژدې پاتې شوی یم. له ډېرو اوږدو کلونو راهیسې زما له حمیدي صاحب سره ناسته پاسته وه. هغه ما د یوه درونـد پښتون ، د یوه صمیمي انسان ، د یوه سپېځلي او منلي لیکوال، ژباړونکي، لیکونکي او شاعر په توګه پېژانده.

هغه به چې ما هر وخت لیده او یا به مې د هغه د حال احوال پوښتنه کوله، نو هغه به همېشه بوخت و. د آثارو په ژباړلو د لنډو کیسو په لیکلو او د شعر په ویلو سره یې ژوند کاوه. له لیکلو او ژباړلو سره یې مینه وه.

زما په فکر په پښتنو کې به ډېر داسې کم کسان پیدا شي، چې هغه دې په دې دومره لږ وخت کې د حمیدي صاحب هومره آثار ولیکي.

له اتو کلونو نه راهیسې هغه په هالنډ کې د جلاوطنۍ ژوند کاوه. په دغو اتو کلونو کې هغه د کمیت او کیفیت له پلوه هم ډېر زیات څه لیکلي او چاپ کړي دي، چې زه غواړم په دعه خپله لنډه او تنګه کیسه کې د اروابنـاد حمیدي راپاتې ناچاپو اثارو تش یادونه وکړم او په دې توګه د هغه روح ته د عقیدت ګلونه وړاندې کړم. له اروابنـاد حمیدي نه څه پاتې شوي دي.

نـه مانۍ تـرې پـاتې کېـږي نـه قصـرونه
لـه ليکـوال نـه پـاتې کېـږي کتابونـه
بـس څـو کـرښې ورنـه پـاتې شـي يـارانو
پـرې ژونـدي يـې وي د ټـول عمـر يادونـه.

او همداسـې ده. لـه حميـدي صـاحب نـه پـه لسـګونو ناچاپـه ليکـنې، مقـالې، شـعرونه او لنډې کيسـې پـاتې شـوي. زه غـواړم په ډېر لنډيز ددغو ناچاپه آثارو يادونه وکړم.

د اروابنـاد حميـدي صـاحب د ناچـاپو آثـارو پـه لړ کـې د هغـه بشـپړ ژونـدليك دی. هغـه پـه دغـه اثـر کـې د خپـل ژونـد پېښـې، زده کـړه، زوکړه او د خپـل رسـمي او دولتـي کـارونو پـه هکلـه ډېـر پـه زړه پـورې څـه ليکلـي دي. زه فکـر کـوم کـه مرګـي لـه مـوږ نـه، نـه وای ښـل کـړی، نـو هغـه بـه ډېـر ژر دغـه خپـل ژونـدليك بشـپړ کړی او چاپ کړی وای.

هغه د خپل ژوند ليك پيل کې ليکي:

خبـر نـه يـم چـې يـې راوسـتم لـه کومـه
بيـا مـې کـوم طـرف تـه اسـتوي چـې درومـه
لکـه ړونـد چـې لاس د بـل پـه اوږو کېـږي
هېـڅ ژوره لـــوړه نـــه وي ورمعلومـه

او بيا په دې پښې د مولوی بلخي په دې خبره، چې:

حاصل عمرم سه سخن بيش نيست
خـام بـودم پخته شـدم سوختم

بانـدې د خپـل ژونـدليك لـه سـتونزو او کړاوونـو نـه ډك

داســتات پيلــوي او د خپــل ژونــد ، ژواك او كــار پــر مختلفــو اړخونو رڼا اچوي.

زمـا پـه فكـر كـه هـر څـوك وغـواړي، چـې خپـل ژونـدليك پـه بشـپړه توګـه وليكـي، نـو دا كـار ماتـه ناشـونى ښكـاري او هغـه ځكـه چـې مـرګ يـو پـټ راز دى او مـرګ دى، چـې ددغسـې ليكنـو د نيمګړتيـا سـبب ګرځـي، نـو ځكـه زه ويلـى شـم، چـې د حميـدي صـاحب ژونـد ليـك هـم نيمګړى دى. د هغـه د ژونـدليك لـه لوسـتلو نـه ماتـه داسـې جوتـه شـوه، چـې هغـه د ويلـو او ليكلـو ډېـر څـه لـرل. هغـه غوښتـل د خپـل ژونـد د ډېـرو اړخونـو پـه بـاب هـم څـه وليكـي او لا نـيم يـې هـم نـه وو ليكلـي، چـې همداسـې ورنـه پـاتې شـو، خـو لږ څـه يـې چـې هـم ليكلـي ښـه يـې ليكلـي دي. هغـه د خپـل ژوندليك په لومړيو مخونو كې ليكي:

"زه پـه دې عقيـده نـه يـم، چـې ښـو تـه هـم ښـه او بـدو تـه هـم ښـه او يـا ښـو نـه بـد او بـدو تـه ښـه ووايـم. هـوډ لـرم لـه خپلـې پـوهې او پېژنـدګلوى سـره سـم پرتـه لـه دې، چـې د دوسـت او دښمـن څېـره پكـې ولټـوم، ښـو تـه ښـه او بـدو تـه بـد ووايـم. هميشـه مـې زړه پـه سـينه كـې پـه دې هيلـه ټوپونـه وهـي، چـې د حـق او حقيقـت پلويـان لـه الماسو سره وتلم.

ونـې ډېـرې خـو بـاغ يـو دى كـه پوهېـږې
كـه كـوي بـل رنګـه فكـر ډېـر غولېـږې
اوه سـكه ورونـه لـري بېـل بېـل نومونـه
بېـل رنګونـه بېـل غږونـه بېـل خويونـه

خـو دوی دواړه اوسـپدونکي د يـوه کـور دي
د يـوې سترګې په کـور کـې سپين او تـور دي.

درنـو دوسـتانو مـا مخکـې وويـل، چـې لـه اروابنـاد حميـدي صـاحب نـه پـه لسـګونو ناچاپـه آثـار، لنـډې او اوږدې منثـورې ادبـي ټـوټې، شـعرونه او نـور پـاتې شـوي دي، خـو دده د ژونـد وروسـتی کـار چـې کښدای شـي د يـوه ځـانګړي اثـر پـه توګـه چـاپ شـي، هغـه دده ژونـدليك او بـل هـم د ښـاغلي عبـدالكريم ميثـاق اثـر، چـې څـو سياسـي خبـرې او د افغانسـتان بيـا وداني نومبـرې. لـه دې نـه پرتـه نـورې ليكـنې د حميـدي نـه چـې پـاتې شـوي، هغـه پـه مختلفـو موضـوعګانو ليكـل شـوي. كـه پـه لنـډيز سره ووايـو، نو د حميدي صاحب ليكنې له څو پلوه د يادونې وړ دي.

لومـړی هغـه همېشـه كوشـش كـړی داسـې يـو څـه پښتـو ژبـې تـه وژبـاړي، ترتيـب كـړي او يـا يـې وليكـي، چـې لاتراوسـه پـه دغـه شـكل نـه وي ليكـل شـوي، تـر ټولـو لويـه ځانګړتيـا چـې ماتـه د حميـدي صـاحب پـه ناچـاپو او چـاپې آثـارو كـې ښكـاري، هغـه ځـای پرځـای د نـړۍ د نـامتو پوهـانو وجيـزې او مقـولې دي، چـې هغـه ډېـر پـه مناسـب وخـت او مناسـبو ځـايونو كـې كـارولې دي. هغـه بـه كوشـش كـاوه، چـې پـه يـوه ليـك كـې هـم چـې خپـل دوسـت او يـا ملګـري تـه يـې ليكـه، دغـو غـوره ويناګـانو بـه د هغـه د ليكـنې منځپانګـه شـتمنه كـړې وه. د مثـال پـه توګـه كـه هغـه د ازادۍ پـه بـاب څـه ليكـي، نـو د ازادۍ پـه هكلـه د پوهـانو غـوره ويناوې ډېـرې پرځـای كـاروي. كـه د اجتمـاعي مسـايلو پـه هكلـه

څه ليکي، هم له دغې شيوې نه کار اخلي او که يوه سياسي تبصره ليکي، بيا به هم د هغه ليکنه د پوهانو له غوره ويناوو نه ډکه وي. زما په فکر دا د حميدي صاحب د آثارو ډېره لويه ځانګړتيا ده.

دلته زه غواړم د هغو لنډو ادبي سياسي او اجتماعي ليکنو يوازې نومونه واخلم، چې اروابنـاد حميدي صاحب نه مـوږ ته پاتې او مـوږ بايد د هغې چاپ ته ملا وتړو، ځکه چې د هرې ليکنې په هکله خبرې به د ډېر وخت غوښتنه وکړي. ادبو ملـنګ، زمـا د خـوب مانـا څـه ده، دا څـوك دی، ښکـلا، د شـــيطان ادرس، اوس نـــو تـــه راتـــه ووايـــه، د واك وړی، پښېمانتيا، او چې ته به په کې څه ووايې او داسې نورې ډېرې لنډې ليکنې له حميدي صاحب نه مـوږ ته راپاتې دي، چې په لوستلو يې د سړي تنده ماتېږي، د هغه يـاد ژوندی کېږي، خو هغه د شاعر خبره ده، چې:

خلک وايي غم ښادي سره ورور خور دي
څه به ښه وای که دا ورور ورسره نه وای.

په درنښت

کاتب پاڅون

د حميدي صاحب د ياد نذرانه

وايي، چې يو چا به هر وخت په خپل کور کې لمونځ کاوه او کله يې هم په ملا پسې لمونځ نه و کړی. کومه ورځ په ولاړ جماعت ورپښې شو، خو په ملا پسې په نيت نه پوهېده. له بلې خوا وخت هم لنډ تنګ و او له چا نه يې پوښتنه هم نه شوه کولای، نو توکل يې پر خدای ج کړ او داسې نيت يې وتاړه:

څنګه نيت چې د ملا وي، هماغسې دې زما وي، الله اکبر.

همدا کانه اوس په ما هم وشوه، په سيمينارونو او کنفرانسونو کې مې نه څه ويلي او نه مې هم ليکلي دي او که رښتيا خبره وي، نو د ليکلو په چل يې هم نه پوهېږم. يو ځل مې زړه و، چې ستاسې درنو ليکوالانو او اديبانو په ليکنو امنا وکړم او ووايم:

د مرحوم حمیدي صاحب په یاد، چې هر څنګه تاسې وایئ او پېرزوینه کوئ، هماغسې دې زما وي، خو بیا مې سترګو ته د مېرزا علم حمیدي هغه خندانه څېره ودرېده، چې زه د لومړي ځل لپاره د کابل په دولتي مطبعې مخې ته ورسره معرفي شوم او زما تعارف یې په خندا او وړین تندي بدرګه کړ. همدا د اخلاص خندا وروسته زما او دده د دوستۍ یوه رابطه شوه، ځکه چې دوه شیان د ځمکې په دې ګردي غونډاري د آدم علیه السلام د زوزاد ترمنځ شریك دي او هغه یا خندا ده او یا هم ژړا. که له چا سره دې یوه خوله خندا شریکه کړه او یا دې د هغه د غم او درد په وخت کې د ژړا سلګۍ ورسره غبرګې کړې، نو زړونه یو بل ته لاره پیدا کوي او رښتیني دوستي رامنځ ته کېږي. بس همدغو دوو خبرو دې ته اړ کړم، چې څو ماتې ګوډې د حمیدي صاحب د تېر یاد نذرانه کړم.

په هماغو ورځو کې د حمیدي صاحب په ادبي او هنري بڼې کې د ژباړې یو نوی ګل غوړېدلی و، چې دا ګل "ژوبڼ" و. ما ددغه طنزي اثر ځینې برخې حمیدي صاحب ته په ټوکه کې یادې کړې، چې دا خو ماته ژباړه نه ښکاري، ځکه چې په ډېره خوږه ډډوالـه ژبه دې لیکلي دي او داسې برېښي، چې ستا خپله لیکنه وي او نومونه دې خارجي وراچولي وي.

هغه وخت په خوښۍ ډډوالـه لهجه ما او هغه ډېر وخندل. له خندا نه وروسته حمیدي صاحب لږ په چرت کې شو او له ما

يې وغوښتـل، چې د ژبـاړې په ژبه او د جملو يـه ترکيـب کې کـه څه ګړه بړه وي تـه يې رااصلاح کړه او زه بـه يې بيـا لـه سره چـې کړم، خـو مـا ورتـه وويـل، چې ځينې طنـزي آثـار مـا پـه فارسـي ژبـاړه کـې لوسـتي دي، خـو دومـره خونـد يـې نـه دی راکړی لکـه چې سـتا د "سړي لار" ژبـاړل شـوي کتـاب، چې د ترکـي ليکـوال عزيـز نسـين طنـزي اثـر و،مـا لوسـتی دی او سـتا پـه استعداد مې سـتا تر څټ آپرين ويلی دی.

رښتيـا هـم د حميـدي صـاحب پـه ليکنـو او ژبـاړو کـې د ژبـې خوږوالی، ساده ګي او رواني د پام وړ ارزښتونه دي.

څـوک چې پـه لومـړي ځـل د حميـدي صـاحب ليکنې لـولي، نـو فکـر کـوي، چې دا بـه هسـې سـاده خبـرې وي، خـو کلـه چې پـه دغـو سـاده خبـرو کـې د ژونـد ډېـر ارزښـتمن او د پـوهې پـه تـول پـوره مفـاهيم ترلاسـه کـوي، نـو هغـه وخـت بيـا سړی پوهېـږي، چې حميـدي صـاحب څـومره سـتر انسـان و او پـه څـومره خـوږ او روانـه ژبـه يـې د نـړۍ د نـامتو پوهـانو او عالمـانو ويناوې او ادبـي آثـار موږ ته په پښتو ژبه ميراث راپرښنې دي.

او دا هرڅـه زه بيـا د حميـدي صـاحب لـه بلې وړتيـا بـولم. دغـه وړتيـا پـه خپلـه د نومـوړي هغـه اسـتعداد و، چې د ليکوالـي پـه برخـه کـې يـې درلـود او ښـه مثـال يـې لـه ژبـاړې پرتـه د نـورو خپلـو مسـتقلو ليکنـو چاپې آثـار دي، چې پـه غونـډه کـې بـه يـې نـورو دوستانو يادونه کړې وي او مقالې به يې پرې ليکلې وي.

لـه دې اسـتعداد پرتـه بـل ځـانګړی اسـتعداد، چې پـه ډېـرو لـږو

کسانو کې پیدا کېږي، هغه د خپل جیب په پیسو د کتاب چاپول او وړیا د لوستونکیو په واك کې ورکول دي. نن سبا پیسه د بنیادمو په منځ کې تر هرڅه مهمه او زړونو ته ورتېره ده او دغه مهموالی یې ماته هغه وخت ښه څرګند شو، چې کله زه له کابل نه پېښور ته مهاجر شوم. هماغه وخت ما د دنیا دولت په هله ځله کې قلم ته وویل، چې څه ولیکي او قلم مې بې له واره ولیکل:

وایي چې دنیا ټوله په ټنډه ده
دلته پېښور کې خو په منډه ده

له همدې خبرې سره مې قلم د تخرګ جیب ته وردننه کړ او د دنیا عبادت ته مې ملا وترله، څو ځله د یوې مجلې یو شله چلوونکی راغی او راته ویې ویل:

ـ په دې ګنه کې به راته ضرور یو طنز راکوې، کنه نو بیا درځنې خپه کېږم.

او ما هماغه وخت د طنز په ژبه ورته وویل، چې زه په عبادت بوخت یم او ته راځنې طنز غواړې. هغه وارخطا شو او بخښنه یې وغوښته. فکر یې وکړ، چې ګوندې زه رښتیا هم په تسبیح ناست یم، خو ما ورته له جیب نه د کلدارو لسګون راووېست او ورته مې ویل، چې د لوټ په مخ دغه جمله ولوله. هغه خواره کوټي په بنده، بنده ژبه ولوستل: "حصول زرق حلال عبادت هے" زمونږ چې په پېښور کې دغه حال وي، نو خدای خبر چې په لندن او جرمني کې به څه حال وي؟

خـو لـه همـدې خـوږوالي سـره سـره، چـې پيسـه د انسـانانو د زړونـو غـوښې دي او د هېچـا نـه پېـرزو کېـږي، چـې دغـه غـوښې پـه وړيـا نـورو تـه ورکـړي، خـو خـداى ښښلـي حميـدي صـاحب د خپـل زړه غـوښې هـم پـه خپلـو خلکـو او خپلـه ژبـه پېـرزو وې او درېـغ يـې ورباندې نـه دى کـړى. تـر هغـې شـېبې پـورې، چـې زړه يـې پـه رګونـو کـې وينـه ځغلولـه او قلـم يـې پـه ګوتـو کـې ټينګـولاى شـو، خـپلې خـواړې او بـې شـتو پښتـو ژبـې تـه يـې ځـوارلس ارزښـتمن آثـار هـم وليکـل، هـم يـې وژبـاړل او هـم يـې د زړه پـه وينو چاپ او بيا يې مور ته وړيا راپرېښودل.

نـو دده دا پېرزوينـه پـه رښتيـا هـم د قـدر وړ ده او زه پـه دې خـوښ شـوم، چـې د يادښـت دغـه درنـه غونډه يـې د خـدمتونو د قدردانـى پـه توګـه جـوړه شـوې ده. لـوى او ښښـونکى خـداې دې ميـرزا علـم حميـدي وښښـي او جنتونـه دې ورپـه برخـه کـړي او زمـور د ژبـې او ولـس خادمـانو تـه دې وس ورکـړي، چـې د خپلـو حقـدارانو حـق پـه دغسـې سـيمينارونو او غونډو کـې ادا او ترسـره کړي. آمين يا رب العالمين.

اجمل روهي

ارواښاد حميدي صاحب

يو ليکوال د شخصيت په توګه

په فلسفه کې تر ټولو عمده او بنسټيزې پوښتنې دا دي، چې روح لومړی پيدا شوی او که مادي جهان او آيا همدغه مادي جهان د پېژندلو وړ دی؟ آيا ټول انسانان نړۍ يو ډول ګوري او احساسوي؟ توپير په څه کې دی، زموږ په اندونو، احساساتو او که په عيني نړۍ کې؟!

که چېرې غواړو دغو پوښتنو ته ځواب ووايو، لومړی بايد د "حيات اوبه" پيدا کړو، هغه وڅښو او بيا ټول عمر ژېړنو ته دوام ورکړو، ځکه تراوسه څوک په دې نه دي بريالي شوي، چې داسې فلسفه وړاندې کړي، چې ټول بشريت ته يو ډول د منلو وړ وي.

په هر صورت! مورږ ځان ته د مفکرو موجوداتو په توګه دا حق ورکوو، چې ددې او دې ته ورته مساهلو په هکله خپل نظر څرګند کړو.

که چېرې د فلسفې له قلمرو څخه ځینو نورو کوچنیو کړیو ته ورننوځو کېدی شي زمورږ ستونزې کمې شي.

د مثال په ډول د مثبته علومو پوهانو ترمنځ د مساهلو پر سر جوړجاړی ژر منځ ته راځي. دا ځکه چې دوی په معیارونو او میتودونو توافق سره لري. د دوی د اندازه کولو وسایل تقریباً یو ډول او یا سره ورته دي.

په ټولنیزو علومو کې دا کار ډېر ستونزمن دی. دلته د تللو او اندازه کولو تلې او نورو وسایل نشته. دلته ښه او بد تر ډېرې اندازې له ارزښتونو سره تړاو لري او ارزښت بیا پخپله هم نسبي دی او تر ډېرې اندازې په مهال او ماحول، دودونو او مذهبونو او نورو مسایلو پورې تړلي دي. له دغو ستونزو سره سره، ځینې داسې ثابت او منل شوي ارزښتونه هم شته، چې په راز راز ټولنو کې یو ډول منل شوي. لکه ربښتیا ویل، غلا نه کول او داسې نور...

قدرمنو حاضرینو! څرنګه چې مورږ نن د اروابنـاد حمیدي صاحب په یاد راغونډ شوي یوو، زما تلوسه وه مخکې له دې چې غونډې ته راشم دده د شخصیت په هکله یو څه پلټنه وکړم. زه دقیقاً نه پوهېدم، چې دده شخصیت چېرې ولټوم؟ د دوستانو په زړونو کې او که دده په آثارو او کتابونو کې؟ کوم

ارزښتونـه او معيارونـه پـه نظر کـې ولـرم؟ لـه همـدې کبلـه مـې دا بحـث د فلسـفې، ټولنيزو علومـو پـه ځينـو سـتونزمنو مسـايلو پيـل کړ. بې لـه شکه پـه دې مسـايلو کـې بـه زمـا شخصـي انـد او ذوق لوبغـاړی وي، خـو زه بـه تـر خپلـه وسـه هڅـه کـوم، چې زمـوږ شخصـي او سـيميز تعلقـات پکـې دخيـل نکـړم. د هبـواد د يـوه وتلـي ليکـوال خبـره مـې پـه يـاد شـوه، چې وايـي "کـه مـوږ پـه مصنـوعي توګـه څـوک وغټـوو، آيـا هغـه شـخص تـه بـه د ګټې پـر ځای زيان ونه رسېږي؟"

قـدرمنو دوسـتانو! مـا مخکـې ووېـل، چې زه نـه پوهېـدم دده د شخصيت لټون چېرې وکړم په زړونو او که کتابونو کې؟

څرنګـه چې زړونـو تـه لاره پيـا کـول آسـانه کـار نـه دی، مـا هڅـه وکـړه د حميـدي صـاحب پـه ليکـل شـويو آثـارو او ژبـاړل شـويو کتابونو کې دده د نيت او نيامت څرګ ولګوم.

د "شـعر پېژنـدنې" د کتـاب ليکـوال د شـاعر پـه هکلـه داسـې ليکي:

"شـاعر يـوازې شـاعر نـه دی، خـو کلـه چـې د ادب د تـاريخ پـه هېنـداره کـې دده څيـره ګـورو، نـو هلتـه دده شخصـيت لـه شـعر سـره پېوسـتون لـري. شـاعر پېژندنـه د شـعر پېژنـدنې پـه شـان نـه ده، خو د دواړو ترمنځ خليج نشته."

د اروابنـاد حميـدي صـاحب شخصـيت هـم دده پـر آثـارو اغېـز کـړی او بـالعکس. ډېـر کلـه داسـې پېښ شـوي، چې يـو شـخص ښـه کتـاب ليکـي او ليکـوال د شـهرت پـر ګـدۍ کېنـوي. هـو،

دغسې انسان د شهرت خاوند دی، خو حتمي نه ده، چې د سړیتوب څښتن دې هم وي.

داسې اشخاص، چې د ښو اخلاقو، ښه اند، ببداره وجدان او مبارز ژوند څښتن وي او بیا دې د لیکوالۍ پرې او ته ځان ورسوي، کمیابه دي. له نېکه مرغه چې اروابنـاد حمیدي صاحب همداسې یو شخص و او له بده مرغه، چې اوس زمور په منځ کې نور نشته.

زمور اروابنـاد دوست د خپلې ټولنې په رنځ پوهېده او کوم طبیب، چې د رنځ تشخیص وکولای شي، هغه ښه درملنه هم کولای شي. دی د اروپایانو په دې متل ډېر ښه پوهېده، چې "د یوم بیا اختراع کولو ته ضرورت نه شته" له همدې کبله هرځای به، چې یو ښه کتاب لاس ته ورغی، نو د ژباړې دندې ته به یې ژر تر ژره اوړه ورکوله. دده خپلې خبرې رانقلوم، چې "د بري راز" په کتاب کې یې لیکي:

"کله چې د مطالعې په لړ کې کوم کتاب د پښتو ژبې او پښتنو خوښدو، وروښو په ګټه راته ښکاره شي، سمدستي قلم ته لاس او داسې په بیړه یې په ژباړه پیل کوم، لکه په سر مې چې څو ټولي پیریان ناست وي او یا مې په دې هکله له خپل وجدان سره ترون کړی وي. له دې کبله پر بل چا منت نه باروم، بلکې غواړم له دې لارې د خپلې ګرانې مور شیدې حلالې او خپل زړه ته تسل ورکړم، ځکه چې هر ملت په خپله ژبه پایي او د هر ملت چې ژبه کمزوري وي، د هغه ملت معلومات او لاس

تـــه راوړنـــې هـــم لـــړې وي او ورو ورو د پوښتـــا کېـــدو پـــه لـــوري درومي.

همدارنګـــه د ژبـــې غښتلتـــوب د اقتصـــادي او سياســـي غښتلتـــوب بنسټ پيـــاوړی کـــوي او ژبـــه هـــم هغـــه مهـــال پيـــاوړې کېـــدای شـــي، چې د هـــرې ورځـــې پـــه تېرېـــدو ســـره يـــې د ويونکيـــو، ليکوالـــو او شـــاعرانو، خپرونـــو او لوســـتوالو شـــمېر زيـــات شـــي، پـــه اقتصـــادي، سياســـي او ټـــولنيز ډګـــر کـــې چـــې د ژونـــد هنـــداره يـــې هـــم بللای شـــو، غښـــتلې برخـــه ولـــري، پـــه فرهنګـــي، اقتصـــادي او ټـــولنيز ژونـــد کـــې د پرمختللـــو هېوادونـــو پـــه پلـــه ګـــام کېـــږدي، د دوی لـــه تجربـــو او علومـــو څخـــه ګټـــه واخلـــي او لـــه دې لارې سياسي درننښت او وړتيا ترلاسه کړي".

د مضـــمون او شـــکل لـــه پلـــوه اروابنـــاد حميـــدي صـــاحب راز، راز کتابونـــه خپـــاره کـــړي. د "کـــانړو زړونـــه" کتـــاب چـــې د افغانـــانو د غميـــزې يـــو رونړ انځـــور يـــې وړانـــدې کـــړی، زمـــوږ د هېـــواد تکـــړه ليکوال او شاعر ښاغلی اسمعيل يون ددې اثر په هکله ليکي:

"دا اثـــر هـــم زمـــوږ د ټـــولنې د نـــږدې دوه نـــيم لســـيز بدمرغـــه ژونـــد تراژيـــدي انځـــوروي او کلـــه چـــې يـــې څـــوک لـــولي، نـــو چـــې د کـــانړو پـــه شـــان کلـــک زړه ونـــه لـــري ورتـــه ټينګېـــدای نـــه شـــي او ضـــرور بـــه يـــې لوستلو پر وخت څو ځله له سترګو اوښکې تويې شي".

کـــه لـــه يـــوې خـــوا مـــو "د کـــانړو زړونـــه" لـــه غمـــه اوښکې تويـــوي، لـــه بلـــې خـــوا مـــو داســـې کتابونـــه لکـــه "د زړې ادې کيســـې"، "چلبـــاز"، "د ټوکو خورجين" مو له خندا نه اوښکې بهوي.

مرحوم حمیدي صاحب ته څرګنده وه، چې له غمه د اوښکو تویولو څخه د ځان ژغورلو لاره، د "بري راز" موندل دي. د "ژوړې خبرې" په نوم سره خپور شوي کتاب کې حمیدي صاحب لیکي:

"لکه چې ګورئ یې ما په دې جونګ کې د لویانو له سینو څخه راغوړېدلي ګلان کرلي دي او د ګلو ګډې مې ورڅخه جوړه کړې ده، دا ددې لپاره چې په دغو خبرو کې خلک د څښتن تعالیٰ عبادت او له انسانانو سره دوستۍ او نیکۍ، خپلواکۍ، ښو اخلاقو، سپېڅلي وجدان، عدل او انصاف، تینګ هوډ، کلک پایښت، ویاړ او شرافت، رښتیا، علم، تجربې، ژور فکر، لر لید، غښتلتوب، زغم او صبر، له بدمرغیو او ستونزو سره په سړه سینه مبارزې، بشردوستۍ، پوهنې، روزنې، تندرستۍ، سولې، کار او بریالیتوب، کتاب مطالعې، مطبوعاتو، لیکوالۍ او د ورځپاڼې لوستلو او نورو ښېګڼو ته رابلل شوي دي".

اروابنـاد حمیدي صاحب دې ته ډېر لېوال و، چې مور افغانان باید "د بریالیتوب لار" پیدا کړو. اما دې لارې ته رسېدل بې له کارو زیاره ناشوني دي. پخپله حمیدي صاحب هم یو زیارکښه انسان و.

د هېواد د نامتو شاعر ښاغلي سلیمان لایق څرګندونې به زما په اند ددې نظر پخلی وکړي، چې لیکي:

"د محترم میرزا علم حمیدي دغه کتاب، چې

"د بریـالیتوب لار" نومـول شـوی دی، د ـړې د سـترو پوهـانو د خبـرو او تجربـو هغـه ټولګـه ده، چـې موټـف لکـه د شـاتو مچـی د سـلهاوو ګـل بوټـو لـه رنګونـو او عطرونـو څخـه ذره ذره راچـوټلې، راټولـــه کـــړې او د حقیقـــت پلټونکیـــو او ســـړیتوب لپوالـــو لاروهونکو ته یې وړاندې کړې ده".

د هېـواد د یـوه بـل تکـړه لیکـوال او څېړونکي ښـاغلي زریـن انځـور نظر هـم د پـاملرنې وړ دی، چـې د همـدې اثـر پـه هکلـه یـې کښلی:

"د ښـاغلي لیکـوال میـرزا علـم حمیـدي تـدوین کـړی او تـالیف کـړی اثـر "د بریـالیتوب لار" د ژونـد د لارویـو لپـاره د بریـالیتوب رازونـــه راســـپړي. لوســـتونکي او د ژونـــد د ښاپســـتونو د لارې مینـه وال د ژونـد خوښـی پـر اصـلي راز پوهـوي، د بریـو پلټـونکي ددغـه لټـون پـر موخـه او لارو چـارو خبـروي، د ژونـد د پیاوړتیـا او ښاپسـت د لارې ازمېښـت ناکـامو کسـانو تـه، پـه همدغـه مـاتو کې د راتلونکیو بریو زېرې ورکوي"

څـوک چـې د حمیـدي صـاحب د ژونـد لـه یـون څخـه خبـر دي، پـه دې پوهېـږي، چـې نومـوړی یـو متعهـد شخصـیت و او خپلـو موخـو تـه د رسـېدو لپـاره یـې لیکوالـی تـه د یـوې ښـې وسـلې او وسـیلې پـه توګـه لاس کـړی. "د بریـالیتوب پـر لار" روان حمیـدي صـاحب لـه دغـو لیکنـو څخـه دده د ښـه احسـاس جـاج پـه اسـانۍ سره اخیستل کېدی شي، چې وایي:

"مـوږ چـې د شـلمې پېـړۍ پـه پـای او د یوویشـتمې پېـړۍ پـه

درشل کې د شتمنو تجربو او بډای فرهنګ په حساس پړاو کې ژوند کوو، لازمه ده چې له تېرو تجربو او تاریخي درسونو څخه ګټه واخلو او کنه بې خبري او غفلت مو نه یوازې د جهل او ناپوهۍ په توره تیاره کې غوپه کوي، بلکې په غړېدلیو سترګو مو د بربادۍ او نېستۍ کندې ته وراچوي.

لکه څنګه چې همدا اوس د خپل ګران هېواد افغانستان د رنګو ویجاړو، د میلیونونو افغانانو د وژنې او د خپلمنځي جنګونو د سترې غمیزې شاهدان یو.

دا ځکه چې د ناپوهۍ له لاملـه د ښو او بدو، د ربښتیا او درواغو، د دوستانو او دښمنانو او د دا ډول ډېرو نورو خبرو ترمنځ توپیر نه شو کولای. لټراوسه هم هغه کسانو ته، چې د وروروژنې په اور کې مو لولپه کوي، خپلواکۍ او د خاورې بشپړتیا، ملي واکمنۍ او ملي یووالي ته مو زیان رسوي، ملي او تاریخي ویاړونه مو وژني د ځینو کسانو له خوا د ملي خاین په ځای د ملي اتل (!) نوم ورکول کېږي".

په آخر کې به دده د ارمانونو غبرګون به د اروابنـاد حمیدي صاحب په دې وینا سره تاسو ته وړاندې کړم، چې وایي:

"دېته ډېر لېوال یم، چې زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې آرامي راشي، ډېر زر خپل د خاپوړو تاوبي ته ورستون شم، خپلې هیلې او هوډونه ترسره کړم".

نظیف تکل

د حمیدي نظم ته یو ځغلند نظر

د لوی او مهربانه خدای په نامه

مـــرګه ولې دې تلوار دی لږ په ورو قدم راواخله
د ژونـــدون ناکاره ځلی هسې هم په نړېدو دی.
"جهاني"

درنـــو او د قـــدر وړ دوســـتانو او د نننـــی غونـــډې ښـــاغلو برخوالو!

نـــن بیـــا همغـــه ورځ ده، چې د یـــو فرهنکـــي او د یـــو لیکـــوال د ویر پر ټغر راټول یو. یاد یې نمانځو او ویاړ پرې کوو.

اروابنـاد حمیدي په یـو یـاد بدل شـو، په یـو داسې یـاد چې تـل

پاتې ویاړ ورسره مل دی.

په یـو داسې یـاد، چې ډېر وخـت بـه د هغـه د دوسـتانو او د اثارو د مینـه والـو په زړونـو کې ژونـدی وي او په یـو داسې ویـاړ، چې د () چاپې اثارو د درناوي وزر پرې غوړولی دی.

دوسـتانو! مـرګ هغـه پدیـده ده، چـې د ژونـد لاړ یـې لـه سـتوني تېرېږي او پر دې لاره یوڼ حتمي دی.

ماتـه ددې تـرځنګ، چـې د اروابنـاد حمیـدي پـر شـعر یـو څـه ولـیکم، هغـه شـېبې هـم رایادېږي، چې په هالنډ کې مـو د یـوې فرهنګـي ټـولنې د رامـنځ تـه کېـدو لپـاره هلـې ځلـې کـولې. په ۱۹۹۷ مـیلادي کـال کـې، چـې کلـه هالنـډ تـه مهـاجر شـوم، تصـادف هغـه کمـپ تـه برابـر کـړم، چې تـر مـا پـه کـې لـږ مخکـې حمیدي صیب اړولي وو.

او دا تصـادف ددې سـبب شـو، چـې زمـوږ تـرمنځ د لیـدنې کتـنې مخـه زیاتـه شـي او خپلـو فرهنګـي کـارونو تـه زیاتـه پاملرنـه وکړو.

حمیـدي صـاحب یـوه ورځ وروسـته زه پـه یـاد شـوي کمـپ کـې ولیـدم، ډېر خوشـاله شـو، خپلـه مهربانـه غېږ یـې راتـه پرانسـته او تـر خپلـو تـورو ببـرو برېتونـو لانـدې یـې وموسـل. پـه خنـدا یـې وویل:

راځـه، راځـه خـدای دې راولـه. مـا هـم غېـږ خلاصـه کـړه د روغبـړ پـه تـرڅ کـې یـې پـه ټوکـه راتـه وویـل: "لېمـه" دې هـم لـه ځـان سـره رامهـاجره کـړه او کـه نـه هغـه دې هماغلتـه د خـدای پـه هیلـه

پربښوده؟ ما هم په ټوکو ورغبرګه کړه، د خدای هیله بهتره ده.

شپې ورځې اوښتې، د کمپ ډېر زیات ناوړه شرایطو و، خو ماته په زړه پورې دا وه، چې د کمپ په داسې ناوړه شرایطو کې هم حمیدي صاحب خپله سلیقه هماغه شان ساتلې وه، لکه څنګه چې په کابل کې وه.

توره اوتو کړې درېشي، نېکټایي په غاړه تازه رنګ کړي بوټان او تور رنګ کړي ویښتان، پاک ستره لکه هېڅ چې مهاجر شوی نه وي.

یوه یوه نیمه میاشت په یاد شوي کمپ کې یوځای واوسېدو، هره ورځ مو سره لیدل، ډېرې ژمنې مو وکړې، ډېرې ناویلي مو وویلې او بیا یې سره ببل کړو. زه پر یوه ولاړم او حمیدي صاحب پر بله.

دوه درې میاشتې مو اړیکې وشلېدې، خو د مهاجرت پراوونه یو په بل پسې پوره اوښتل، بیا مو سره پیدا کړل او دا هغه وخت و، چې مورږ دواړو په هالنډ کې د دایمي استوګنې اجازه ترلاسه کړې وه.

اروابنداد حمیدي د هالنډ د امرسفورت په ښار کې د یو کور څښتن و او زه هم. د خپلو کړو ژمنو په ترسره کولو مو لاس پورې کړ.

د ۱۹۹۸ میلادي کال په اوړي کې له نورو یارانو سره په ګډه د یوې فرهنګي ټولنې په جوړېدو بریالي شو. دا ټولنه افغاني فرهنګي بهیر ونومول شوه، چې په جوړېدو کې یې دې

کسانو ونډه درلوده:

۱ـ ښاغلی اروابنـاد مېرزا علم حميدي

۲ـ ښاغلی اروابنـاد عبدالمالك پېغام

۳ـ نظيف تکل

دا پـه هالنـډ کـې لومړنـی افغـاني فرهنګـي ټولنـه وه، چـې پـه ټول هالنـډ کـې يـې د افغانـانو پـه يـو کولـو کـې هڅـه او هانـد وکړ او په ټولو افغانانو کې له يو ډول درناوي نه برخه منه وه.

د افغـاني فرهنګـي بهيـر لومړنـی غونـډه، چـې د ښـاغلي ډاکتـر همـايون کـامران پـه کـور کـې جـوړه شـوه، اروابنـاد ميـرزا علـم حميـدي د ټولـو پـه اتفـاق د افغـاني فرهنګـي بهيـر د مشـر پـه توګه غوره شو او نظيف تکل يې د منشي په توګه.

د افغـاني فرهنګـي بهيـر ټول کارونـه ښـه پـه زور کـې مـخ پـه بـره روان وو. غونـډې مـو کـولې، مشـاعرې مـو جـوړولې، تماسـونه او رابطـې مـو ټينګـولې، چـې يـو ناڅاپـه اروابنـاد حميـدي لـه مـوږ سـره لـه ګـډ فرهنګـي کـار څخـه زړه تـوری شـو. هرڅـه چـې مـو وکـړل، خـو هېـڅ خـواری او زاری نتيجـه ورنـه کـړه. ان تـر دې چـې پـه اخيـر کـې يـې مـوږ د افغـاني فرهنګـي بهيـر انحـلال تـه مجبـور کړو.

هماغسـې وشـول، د اروابنـاد حميـدي پـه کـور کـې مـو غونـډه وکـړه او پـه تـرڅ کـې مـو د افغـاني فرهنګـي بهيـر انحـلال اعـلان کړ.

پـه همـدې ورځ مـو پـه ګـډه د افغـاني کلتـوري ټولنې جوړولـو

تـه مـلا وتړلـه، چې اوس هـم پـه هالنـډ کې لـه همـاغې ورځې تـردې دمه فعاليت لري.

دا وو هغـه څـه، چې مـا يـې پـه سـر کې تاسې تـه يادونـه وکړه، اوس به راشم خپلې اصلي موضوع ته.

د حميـدي صـاحب پـه هنـري او فرهنګـي هڅـو کـې د هغـه اروابنـاد شـاعري هـم راځي، خـو لـه بـده مرغـه د څـومره والـي لـه پلـوه د هغـه شـاعري دومـره بډايـه نـه ـه، لکـه څومره چې د هغـه د هنري نثرونو ليکنې غني او ښـتمني دي.

د حميـدي شـاعري زمـا پـه خپـل کومـان ماتـه هالينـډ تـه د هغـه د مهـاجرت د وخـت او مهـال همـزولې شـاعرې ښکـاري، ځکـه هغـه شـعر چې اروابنـاد حميـدي ماتـه پـه کمـپ کې راکړی و او مـا هـم پـه يـاد شـوي کمـپ کـې لوسـتی و، ددې ورقـو پـه سـر کـې اينبـی دی، چې ماتـه ښـاغلي پـاڅون حميـدي (د اروابنـاد حمـدي زوی دی) پـه پوسـت کـې رالېږلي دي. بـل دا چې د همـدې شـعر د ليکـنې نېټـه تـر نـورو ټولـو شـعرونو پخوانـی ښکـاري، نـو ددې دلايلـو لـه مخـې سـړی پـه زغـرده ويـلای شـي، چـې د اروابنـاد حميـدي شـاعري پـه هماغـه ۱۹۹۷ مـيلادي کـال کـې کلـه، چـې هالنـډ تـه مهـاجر شـوی، پيـل شـوې ده او لومـړی شـعر يـې هـم يـوه پرتلنـه يـا مقايسـه ده، چې خـدای ښـلي پـه ۱۹۹۷/۰۹/۰۸ کـې ليـکلې ده، کـه څـه هـم داسې مقايسـې زمـوږ اکثـرو شـاعراو کلـه چې لـه خپـل هېـواد څخـه بـل هېـواد تـه مهـاجر شـوي يـا پـه چکـر تللي داسې مقايسې يې کړي دي.

د خپـل وطـن انسـان، د خپـل وطـن طبيعـت د خپـل وطـن اوبـه خـواړه او حتـى د خپـل وطـن ونـې بـوټي يـې هـم د بـل وطـن لـه ورتـه شـيانو سـره مقايسـه کـړي دي. يـا يـې خپـل ښـه بللـي يـا د بـل حميـدي صـاحب هـم دغـه مقايسـه ډېـره زړه راکښـونکې کـړې ده. وګورئ د بېلګې په توګه ددې شعر يو څو بيتونه:

دلتـه پسـرلی دی ښاپسـته مـيلې سـيلونه دي
هلته مينـدې بـورې، کـړي ويرونـه او غمونـه دي
دلتـه خنـداګانې، نڅاګـانې خوشـالۍ ښکـاري
هلتـه ژړاګـانې، بـې وسـۍ او سـره اورونـه دي.

(تر پايه)

دا ډېـر اوږد شـعر دی، چـې دلتـه لـه هلتـه سـره پرتلـه شـوی دی. د هېـواد نـاوړه شـرايط د هالنـډ لـه هوسـاينو سـره پرتلـه شـوي دي. دا انسـان يـې د هغهځـای لـه انسـان سـره ، چـې ده خـاپوړې ورسـره کـړي دي او د ژونـد ډېـره برخـه يـې پـه کـې تېـره کـړې ده، پرتلـه کړی دی او بيـا يـې د خپـل انسـان پـه بـې وسـۍ د خپـل شـعر اوښکې تويې کړي دي.

خـو ماتـه د حميـدي صـاحب شـاعري لـه څـو پلـوو د سـتاينې وړ ښکاري:

۱ـ دا چـې دده پـه شـعر کـې هېوادپالنـه، انسـان پالنـه يـا (هيومانيسـتي) ملـي افغـاني ناسـيونالېزم، لـه جګـړې کرکـه، وعـده، صـداقت او مينـه نـرۍ پـه هـر بيـت کـې ځـان رابنکـاره کوي.

۲_ دا چې دده شعر ډېر ساده، عام فهمه او بې تکلفه دی، چې زمونږ د ټولنې هر وګړي ته د پوهېدو وړ دی، بې له دې نه چې یو بل څوک یې ورته توضیح او تفسیر کړي او یا په پخوانۍ اصطلاح چې "المعنا الشعر في بطن الشاعر" داسې نه دي او دا هغه وخت دی، چې د ډېرو په شعر کې لانشته.

۳_ دا چې ده په خپل شعر کې هېڅ کله د خپل زړه خبره په خپل زړه کې دننه نه ده پرېښې، هڅه یې کړې چې هغه وکړي، ځکه چې دا د ډېرو افغانانو د زړونو خبره وي او په دې کې بیا په دې پسې نه دی ګرځېدلی، چې د شعر قالب په پام کې ونیسي او دده د زړه د خبرې خنډ شي.

زه په دې برخه کې د خپلې خبرې د زبات لپاره د هغه د یو اوږد نظم یو څو بیتونه د بېلګې په ډول رااخلم. دا نظم ولسمشر کرزي ته ویل شوی دی:

رسېدلی یې کرزیه لوړ مقام ته
د تاریخ د عبرتونو امتحان ته
دا مقام نه دی، دا سم پل صراط دی
لاره وځي یا جنت ته یا نیران ته
پر بغل دې پرونې لوټمار ان ګرځي
خدای دې خیر کړي د ستا سر ته زمونږ ځان ته
لږ چرت ووهه له تانه مخکې څوک، وو
چې مختوري شول تاریخ او پاک سبحان ته.

(تر پایه)

لکـه څنګـه چـې ټولـو تـه معلومـه ده، چـې حميـدي صـاحب پـه خپلو ټولـو ليکنـو کـې خپلـه سيمه ييزه لهجـه کارولـه، نـو مـا هـم د هغـه پـه خپلـو خبرو او ليکنـو کـې لاس ونـه واهـه او شعر مـې يـې پـه هماغـه امـلا وليکـه، لکـه څنګـه چـې هغـه خپلـه ليکلي وو. يـوه بلـه ضـروري يادونـه زه غـواړم وکـړم او هغـه دا، چـې د حميـدي صـاحب کـوم شـعرونه چـې ماتـه ښـاغلي پـاڅون حميـدي راکـړي دي، هغـه بـه زه فکـر کـوم، چـې د حميـدي صـاحب ټولـه شـاعري وي، ځکـه د حميـدي صـاحب يـو عـادت دا وو، چـې خپلـه ليکنـه بـه يـې د کتـاب تـر کچـې ورسـېده، هغـه بـه يـې چـاپ تـه چمتـو کولـه، نـو شـاعري يـې د کتـاب تـر کچـې نـه وه رسـېدلې، ځکـه ناچاپه پاتې شوه.

په درنښت

بسم الله اکبری

د اروابناد حمیدي

د جنازې د درنښت مراسم

د نیاومن او ځواکمن خدای په نامه

ډیرو درنو او پیاوړو فرهنګیانو، ادیبانو او د غونډې محترمو برخه والو!

زه تر ټولو دمخه لومړی هغو درنو دوستانو پر فرهنګ او مینو ادیبانو او په ځانګړې توګه په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې محترمو غړیو ته، چې زموږ د هیواد د یوه تکړه او هوډمن فرهنګي شخصیت اروابناد حمیدي صاحب د درانه یاد په اړه یې ننني علمي غونډه

سمبال او رابللې ده، د زړه لـه کـومې مننـه کـوم. خـو ای کـاش نننۍ غونډه د اروابنـاد میـرزا علـم حمیـدي د برمیـال ژونـد پـر مهـال جـوړه شـوې وه، چې حمیـدي صاحب تـه دا جوتـه شـوې وه، چې پـه پښتـو ادب او فـرهنګ مهنـان حمیـدي او دده فرهنګـي او ادبـي اثـارو او خـوږو ژبـارو تـه پـه خـورا درنـه سترګه ګـوري او د پښتـو ادب پـه لاره کـې دده بـې سـارې او همېشـنۍ مینـه او نـه ستړې کېدونکې هلې ځلې ستايي.

د خوشال بابا وينا ده، چې وايي:

د خوشال قدر که اوس په هېڅا نشته
پس لـه مرګه به يې ياد کا ډېر عالم

درنو دوستانو او حاضرينو!

بـاور وکـړئ زه همـدا شـېبه او همـدا راز همېـش داسـې انګېرم، چې ګڼې مېرزا علـم حميـدي همـدا اوس راسره پـه نننۍ غونډه کې ناست دی. دده درنـه پښتنـي مبـارزه سټه مـې سترګو تـه درېږي، ځکـه هغـه پخپلـه ژبـه پښتـو او پښتونوالـه ډېر مېـن و او داسـې فرهنګـي او علمـي غونډو تـه يـې لېـرې واټنونـه وهـل او هرومرو به يې پکې برخه اخيسته.

زه لـه اروابنـاد حميـدي سـره د ژونـد پـه اوږدو خـو پـه ځـانګړې توګـه د مهـاجرت پـه دوران کـې خـورا زيـاتې خـوږې خـاطرې لـرم. هـره اوونـۍ بـه د تليفـون پـه ليکـه زمـا او دده تـرمنځ د مينـې خوالـه او د پښتـو ادب او فـرهنګ پـه هکلـه مينـه نـاکې خبـرې کېـدې، يـو او بـل تـه بـه مـو ادبـي ټوټې او کلـه ناکلـه شـعرونه

اورول، خو له بده مرغه زه به بیا هېڅکله د حمیدي صاحب له پښتنـي او افغـاني احسـاس نـه ډکـې خبـرې او د زړه خوالـه وانـه ورم. خو په دې ویـارم، چې دده درنـې او ښکلـې خـاطرې مـې تـل پـه زړه کـې لکـه بلـې ډیـوې بلېـرې او دده د ببلابېلـو آثـارو او ژبـارو پـه لوسـتلو او بیـا بیـا کتلـو مـې د خـوږمن زړګـي دردونـه ټکوربرې.

ستا د ښایست ګلونه ډېر دي
ځولۍ مې تنګه زه به کوم کوم تولومه

درنو دوستانو!

د حمیـدي صـاحب د مـړینې پـه مهـال زه پخپـل هېـواد کـې وم، خـو خـداېږو دده د ناڅـاپي مـړینې خبـر ډېـر درونـد او زړه بورښـوونکی و. تـر اوږدو کلونـو وروسـته مـې وطـن د میـنې ارمانونـه نـاببره غـم وزمولـل او لـه خـورا ترخـو شـېبو سـره مخـامخ شـوم، خـو بیـا چې د اروابنـاد حمیـدي صـاحب جنـازه کابـل هـوایي ډګـر تـه راورسـېده، ورتـه هرکلـي او د ګڼـو دوسـتانو او مینـه والـو حجضـور زمـا تـر سـترګو د غـم او مـاتم پـردې وڅیـرلې او پـه وجـود کـې مـې د بسـیاینې او ویـارې یـوه بـې سـارې متـره پیـدا شـوه. د هـوایي ډګـر او د عیـدګاه د جـامع جومـات د واټ پـه اوږدو کـې د ګـڼ شـمېره موټرونـو اوږدو لیکـو مـې لاپسـې د زړه ډاډینـه زیاتولـه، شـاوخوا چاپېریـال داسـې ښکارېـده، چـې تـا بـه وې د ټپـي ټپـي کابـل هـره ویجـاړه کوڅـه او هـره نړېـدلې مانۍ د خپـل مېـن وطنپـال جنـازې تـه هرکلـی وایـي او د جنـازې پـه مراسـمو یـې

ويارې. هوکې!

ډېر تفـاوت شته په انسان کې د مانا په لحاظ
واړه مشغول دي ځينې ځان ځينې جهان جوړوي

د همـدغو درنـو مراسـمو پـه تـرخ کـې مـې ستاسـې محترمـو فرهنګيـانو پـه نمايندګـي د محتـرم اکاډميسـين سـليمان لايـق د خواخـوږي پېغـام چـې د اروابنـاد حميـدي صـاحب پښتنـي سـپېځلي روح تـه يـې پـه هـر تـوري او کـلام کـې ارزښتناکې ادبـي مرغلـرې ډالـۍ کـولې، ولوسـت. د ادب د مينـه نـاکې او فرهنګپـالې خواخـوږي اغېـز دا مراسـم لا پسـې درنـه او برميـال کړل او د هـر چـا پـه سـترګو کـې د اوښکـو نـذرانې لکـه برېښنـا ښکارېدې.

د جنـازې مـل کـاروان د خوست پـه لـوري يعنـي د اروابنـاد سـتر ادبـي او فرهنګـي شخصـيت روهـي صـاحب د تـاټوبي پـه لـور وخوځېـد او د لارې پـه اوږدو کـې پـه ببلابېلـو سـيمو کـي پـه بـې سـاري مينـه او ژوره خواخـوږي د حميـدي صـاحب جنـازه استقبال شوه او ماته دغه لنډۍ رايادېده، چې وايي:

د مسافرو کلۍ راغلې
زما د يار کلۍ وروستۍ ده رابه شينه

زما هدف د اروابنـاد روهـي د جنازې د انتقال ياد دی.

مـوږ پـه داسـې مهـال کـې، چـې د ډډوالـو لـه جومـاتونو څخـه د مابنـام د الله اکبـر الله اکبـر اذانونـو انګـازې خپـرولې، ورسـېدو او سـبايي د ګـڼ شـمېره خوسـتيانو پـه موجوديـت کـې د اروابنـاد د

تدفين درانه مراسم ترسره شول.

خادم چې په رښتيا وي څوك د ملك او د ملت
وطـــن يـــې پس له مرګه په مدفن فخر كوي.

محترمو حاضرينو!

د پښتـــو ادب او فـــرهنګ پـــه برخـــه كـــې د حميـــدي صـــاحب رښتيـــني مينـــه او بريـــاوې هغـــه څرګنـــد واقعيتونـــه دي، چـــې نـــه يـــوازې مـــوږ او تاســـې، بلكـــې راتلـــونكي نســـلونه بـــه هـــم پـــرې وويـــاړي. ده لـــه خـــپلې ژبـــې او خپـــل ولـــس ســـره رښتيـــني مينـــه وپالـــله او پـــه ډېـــره روانـــه او خـــوږه پښتـــو ژبـــه يـــې ډېـــر ګټـــور او ارزښتنـــاك آثـــار وژبـــاړل، هغـــه يـــې پخپـــل شخصـــي لګښـــت چـــاپ او بيـــا يـــې پـــه وړيـــا توګـــه د ادب او فـــرهنګ مينـــه والـــو تـــه ډالـــۍ كـــړل او پـــه دې لاره كـــې يـــې خپـــل ټـــول معنـــوي او مـــادي ځـــواك ونـــه ســـپماوه او لا يـــې ســـپېځلي ارمانونـــه او ســـترې هـــيلې درلـــودې او تـــل بـــه د خـــپلې ويـــاړلې ژبـــې او مېـــړني ولـــس د چوپـــړ پـــه فكـــر كـــې و.

محترمو دوستانو او حاضرينو!

فخـــر افغـــان پاچـــا خـــان پـــر ځـــای ويلـــي وو، چـــې يـــو قـــوم تـــر هغـــه ژونـــدی وي، چـــې خپلـــه ژبـــه يـــې ژونـــدۍ وي يعنـــي كـــه چېـــرې د يـــوه قـــوم ژبـــه مـــړه شـــي، قـــوم هـــم ورســـره جوخـــت لـــه منځـــه ځـــي، چـــې د تـــاريخ پـــه اوږدو كـــې ډېـــرې داســـې ژبـــې او قومونـــه منحـــل او لـــه منځه تللي دي.

ژونـــدي قومونـــه همېـــش ژونـــدۍ او غښـــتلې ژبـــې لـــري. لـــه نېكـــه

مرغـــه پښتـــو ژبـــه اوس پـــوره ليکـــوالان، شـــاعران، ادبپوهـــان او هنرمنـــدان لـــري، خـــو لـــه دې سـره سـره د پښتـــو ژبـــې د لا انکشـــاف او پـــرمختګ پـــه لاره کـــې ښـــلا ښـــل خنډونـــه او بـــې شـــمېره ســـتونزې پـــرتې دي، چـــې د هغـــه د هـــواري لپـــاره هـــم زمـــوږ د ادبپوهـــانو، ليکوالـــو او شـــاعرانو ګـــډ مســـوولیت او ملـــي وجيبـــه ده، چـــې د حـــل لارې چـــارې يـــې ولټـــوي، علمـــي غونـــډې او ســـيمنارونه جـــوړ کـــړي او د هغـــه پـــه تـــرڅ کـــې ګـــډ تصـــاميم ونيســـي. دا يـــو څرګنـــد واقعيـــت دی، چـــې پـــه لـــره او بـــره پښتونخـــوا کـــې پښتـــو ژبـــه لـــه ســـيمه ييـــزو ژبـــو ســـره د ښـــوونې روزنـــې، مطبوعـــاتو او ډلـــه ييـــزو رسنيو پـــه ډګـــر کـــې سيالي نشـــي کـــولای او يـــا پـــه بلـــه وينـــا پښتـــو ژبـــې تـــه نـــاڅيزه او حتـــی پـــه ځينـــو مـــواردو کـــې هېڅ ونـــډه نـــه ده ورکـــړ شـــوې او نـــورې ژبـــې يـــې لکـــه ژورې پـــر ســـتوني نښتـــي دي. پـــه داســـې حـــالاتو کـــې پښتـــو ژبـــه نشـــي کـــولای وړ پـــرمختګ او انکشاف وکړي.

زه تاســـې تـــه يـــو بـــل ســـاده مثـــال يـــادول هـــم غـــواړم، تاســـې د کرښې پـــر هـــاخوا د پېښـــور، کـــوټې او يـــا کرښـــې تـــه څېرمـــه ښـــارونو کـــې کـــه څـــار وکـــړئ، پـــه ټولـــو ښـــارونو او بـــازارونو کـــې بـــه پـــه پښتـــو ژبـــه يـــوه ليکنـــه د پلورنځيـــو، هوټلونـــو، شـــرکتونو او نـــورو ښلابېلـــو مؤسســـاتو د دروازو پـــر ســـر ونـــه ګـــورئ، ټـــول پـــه اردو او يـــا انګليســـي ژبـــه دي. دوکانـــدار او ســـوداګر پښتـــون دی، کـــه د ټليفـــون د يـــوې نمـــرې پوښتنـــه تـــرې وکـــړې، د هغـــه عددونـــه پـــه اردو او يـــا انګليســـي ژبـــه داســـې زر درتـــه وايـــي، چـــې تـــه بـــه وايـــې اردو

د شعرونو

برخه

او انګلیسي یې د پلار او نیکه ژبه ده. دا څه موده دمخه ماته د پښتور په نښار کې یوه بنګښ پښتون ځوان د هایکو په نامه په پښتو ژبه کې د نویو اشعارو یو کتاب ډالۍ کړ، ما هیله ترې وکړه چې په کتاب کې پخپل قلم څه راته ولیکي. باور وکړئ سملاسي یې کتاب په انګلیسي ژبه راته ډالۍ کړ. ما ورته وویل، چې ایا کېدای شي همدغه لیکنه په پښتو هم راته ولیکې؟ هغه موسکی شو، ویې ویل، چې پښتو لیکنه مې تر انګلیسي خورا کمزورې ده، په پښتو لوستل کولای شم، خو د لیکلو مې تیك مزه نشته.

د کرغېړنې کړنې اخوا خو لا پرېږده زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې هم د پښتو ژبې د انکشاف او غوړېدو لپاره له مودو مودو راهیسې د نورو ژبو په پرتله کار نه دی شوی. همدا اوس د پښتو ژبې خپرونې په پرتلیزه توګه په اوړو کې د مالګې هومره دي او په کابل نښار کې د ګوتو په شمار خپرونې پخپله پښتو ژبې او ادبیاتو ته زیانمنه راتلونکې لري.

زه په دې باب ډېر ویل نه غواړم، خو هیله ده چې زمونږ ادب پوهان او فرهنګي شخصیتونه به د پښتو ژبې په لاره کې د ستونزو د حل لپاره وړ لارې چارې وسنجوي، د کمپیوټر او انټرنېټ د عصري ټکنالوژۍ په وسیله پښتو ژبه هم باید له نورو ژبو سره سیالي وکړي، په دې لاره کې د سترو بریو په هیله.

زه یو ځل بیا د حمیدي صاحب روح نښاد غواړم او ددې درنې خاطرې او یاد دې تل ژوندی وي.

مننه

ځار دې شم هېواده

ځار دې شم هېواده، په بدن کې دې ټپونه دي
سرې وینې بهېږي، ستا په غېږه کې جنګونه دي
هره خوا زګېروي دي، ډېر ټپونه ډېر مرګونه دي
سرې سکروټې اوري، د توپونو اوازونه دي
هره خوا غږمبا ده، یو په بل باندې ډزونه دي
ستا بچي خرڅ شوي، په لمن دې تور داغونه ادي
داسې لېونې دي، تېروتلي، غولېدلي دي
نه پرېږدي ارام ته، ستا ګرېوان کې یې لاسونه دي.

وران یې کړې هېواده، دوی پردو مېندو روزلي دي
دوی افغانان نه دي، ستا په غېږه کې لوی شوي دي
کندې، کنډوالې شوې، ستا بدن سوری سوری شولو
ستا ښکلې لمن کې، د دښمنو یرغلونه دي

مېندې مو شوې بورې، درنې خوښۍ مو سرتورې شوې
ســره بڅرکــي اوري، د راکټــو ګوزارونــه دي.
غواړي تا ټوټې کړي، د پـردو پښـو تـه دې واچـوي
نه دي د افغـان زامـن، کـوم بـل چـا زېـرولي دي.

دلته خلک کار کړي، خپل هېـواد ودانـول غـواړي
هلتـه د ظـالم زامـن، تـا نـور هـم ړنګـول غـواړي
دلتـه خلـک لګيـا دي، د قـانون تطبيقـول غـواړي
هلته قانون نه شته، د وحشي ژونـد خپـرول غـواړي
دلته خلـک ارام دي، د ولـس هوسـا کـول غـواړي
هلته کلي وران دي، لا يـې نـور ويجـاړول غـواړي
دلتــه هرڅــه ډېــر دي، تمــدن پراخــول غــواړي
هلتــه دښمنــان، لا د بريــدونو خپــرول غــواړي.

ای زمــا هېــواده ســتا پــه برخــه هوســونه شــه
ستا په غېږ کې خـاورې، د دښمنـو تـور سـرونه شـه
د سرو ګلونو بـاغ شـې، اوسـپنېز دې سـنګرونه شـه
شنه دې شه ډاګونه، سپېرې دښـتې دې باغونـه شـه
درمل دې ټپي زړه شه، ترخـه بـوټي دې ګلونـه شـه
خاورې دې سره زر شه، تورې تېرې دې لالونـه شـه

په ټولو دې سـرلوړ شـه، ژر پـوره دې ارمانونـه شـه
ټپونـه دې رک روغ شـه، دل آسـا دې ولسـونه شـه.

زه خو ستا بچی یم، ستا پـه غېږ کـې زېږېـدلی یـم
سر به درنـه ځـار کـړم، سـتا پـه مینـه کـړېـدلی یـم
زه خو ستا بچی یـم، سـتا پـه غېږ کـې پایـدلی یـم
ځان به درنه ځار کړم، تا پـه غېږه کـې روزلـی یـم
زه خو ستا بچی یم، سـتا لمـن کـې یـې وهلـی یـم
نه یې پرېښودم هلتـه، بـل هېـواد تـه یـې شـړلی یـم
سر به مې اېرې کړم خو ستا پـت، عـزت بـه وسـاتم
ویـاړم حمیـدي چـې سـتا پـه مینـه ځورېـدلی یـم.

۲/۱۰/۱۹۹۷

افغان وایي

د همت سر مـې اوچـت پـه ټـول جهـان دی
دغـــه ځکـــه قهـــرجن ځمکـــه اســـمان دی

مـوږ لـه خـپلې خـاورې ټـول دي زغلـولي
هلاکـو، کـه سـکندر، کـه چنګېـز خـان دی

زمـــوږ د تـــورو کارنـــامې تـــاریخ پـــه زړه دي
چې هر وخت مو فتح کړی جنګ مکـان دی

د روســـانو ســـور لښکـــر مـــو شـــرمولی
دغـــه ځکـــه ټـــول جهـــان راتـــه حېـــران دی

لا تراوســه یــې رمــوږ کیســې پــه زړه دي
چې تر غوږ د تورې شرنګ د لوی افغـان دی

تیمــور پښــه، انګرېــز ســرونه پکــې باېلــل
ښکېلاکګـر، یرغلګـر دواړه ډېـر پښېمـان دی

شــوروي مــو لــه دې خــاورې زغلــولی
دغــه ویــاړ د ســتر افغــان چــې قهرمــان دی

غــورې پــرې مــو لــه ډېــرو اوربــدلي
جــنګ ډګــر کــې تښتېــدلی لــه افغــان دی

د میــرویس او د احمــد بچــي ژونــدي دي
بــر بــه نــه شــي پاکســتان او کــه ایــران دی

ګوډاګیــان بــه خامخــا زر پــه ګونــډو شــي
چې د بـل پـه قـدرت ویـاړي ډېـر نـادان دی

هسې یې خوشې ډنډورې دي خـورې کـړي
هــر افغــان مــو بریــالی پــه هــر مکــان دی

نازو تور ټیکری په سـر او سـترګې سـرې دي
مورِ ته وایي"دا مـو څـه کـړي پـه ځـان دي"

د مېرویس لـه شـملې تـور دود پورتـه کېـږي
ملالـــی مـــلا تـــړلې جـــنګ میـــدان دی

دا پېغـــام یـــې مېړنـــو تـــه دی راوړی
ســره یــو شــئ چــې بیــا نــوی امتحــان دی

ملــي روغــه پېشــنهاد کــړئ او کــه نــه وي
پرې یې نه ږدئ خپل هېواد راباندې ګـران دی.

۲/۳/۱۹۹۸_ هالنډ

د غم څپې

یـــــوه لا خلاصـــــه نـــــه بلـــــه پېښېـــــږي
زمـــــور بېګنـــــاه خلـــــک وژل کېـــــږي

لـــــه هـــــرې خـــــوا د غـــــم څـــــپې خورېـــــږي
لـــــه هـــــرې خـــــوا ژړا اورېـــــدل کېـــــږي
دا څومره عجیبه ده جنګ جویان پـرې نـه پوهېـږي

لـــــه هـــــرې خـــــوا مـــــو مینـــــدې بـــــورې کېـــــږي
لـــــه هـــــرې خـــــوا مـــــو خوښـــــدې کونـــــدې کېـــــږي
هر لوري ته چې ګـورې، هـدیرې دې لا زیاتېـږي

لـــه هـــرې خـــوا غمجـــن حالـــت زياتېـــږي
لـــه هـــرې خـــوا د ويـــر لمـــن پلنېـــږي
دا څـومره ظالمـان دي چې پـه وينـو نـه مړېـږي

لـــه هـــرې خـــوا نـــه کـــډې دي بارېـــږي
لـــه هـــرې خـــوا نـــه مـــړي دي چلېـــږي
دا څومره بې احساس دي، چې پردي ډول تـه ګډېـږي

لـــه هـــر خـــوا عزتونـــه دي لوټېـــږي
لـــه هـــر خـــوا د اســـان ويـــنې بهېـــږي
چـــې لـــږه ارامـــي شـــي، زلزلـــه پـــرې نازلېـــږي

لـــه هـــر خـــوا ودانـــۍ دي چـــې نړېـــږي
لـــه هـــر خـــوا ملـــي شـــته چـــور تـــالا کېـــږي
د سـمڅو بادشـاهان دي، هـره ورځ پسـې زياتېـږي

لـــه هـــرې خـــوا فـــرهنګ تـــه زيـــان رسـېږي
لـــه هـــر خـــوا د افغـــان تـــاريخ ســـپکېږي
حېران يم دې کيسې ته، چې نامرد پرې نه پوهېـږي

لـــه هـــر خـــوا مظلومـــان وژلـــی کېـــږي
لـــه هـــر خـــوا ســـوې چېغـــې پورتـــه کېـــږي
نړۍ ګوته په خوله ده، چې دا ولـې داسې کېږي

لـــه هـــر خـــوا راکټونـــه راوړېـــږي
لـــه هـــرې خـــوا ظلمونـــه دي چـــې کېـــږي
دا څـومره بـده ورځ ده، حميـدي ورتـه ځورېږي.

۲/۲/۱۹۸۸ هالنډ

سوری زړه

شـپه او ورځ ویـر او ژړا ده، زمـوږ خوښـدې مینـدې ژاړي
کله یو ځای کله بـل ځـای، لـه پـردو نـه خبـرات غـواړي.

هـره خـوا یـې کـډې بـار دي، در پـه در پـه ژړا سـر دي
سـر ګردان لالهانـد ګرځـي، غـم وهلـي سـر پـه سـر دي
پـه ملیونـو وروڼـه مـړه شـول، مـړه کـبړي پـه دې لاړې

پـه لکونـو خوښـدې کونـډې، پـه لکونـو مینـدې بـورې
د دښمن زړه لا سـوړ نـه دی، لا بـه څـومره وکـړي نـورې
هـره خـوا ویـر او ژړا ده، هـره خـوا کـوکې چغـارې

کلي کندې کنډوالې شول، جومات ړنګ، ښارونـه وران شـول
تمـدن لـه منځـه لاړو، ملـي شـته مـو چـور تـالان شـول
موزیمونـه یـې خـالي کـړل، لا پـه خپلـو کـارو ویـاړې.

معدنونه یې ټول خرڅ کړل، بانکي زبرمې یې تالا کړې
له بانکو یې هرڅه لوټ کړل، ملي پانګې یې د ځان کړې
حمیدي په دې خبر دی، چې پرې به یې نه ږدي په کراړې.

د "اکبر" ټپانچه یې ورکړه، د "احمد" توره یې تحفه کړه
په دا شانې بدو کړو یې، خپلو شتو کاسه چپه کړه
اوس پردي وطن کې ناست، لا کوي لاپې په باړې

ګالرۍ یې لوټ تالا کړې، ارشیفونه یې خالي کړل
خپل جېبونه یې ترې ډک کړل، خپل اولاد ته یې ځایي کړل
نه شرمېږي دا بې شرمه،وهي لاپې په بار، بارې

عزتونه یې ډېر لوټ کړل، انسانان یې ژوندي ښخ کړل
نه یې تخت، نه پایتخت شته، ورک یې هرڅه له یو مخ کړل
داسې سپک راته ښکارېږي، چې په مخ یې تو وي لاړې

له خپل ورور نه یې غچ واخیست، د پردو زړګي یې خوښ کړل
د وطن له غېږې لاړو، ځان یې کټ مټ د شرمښ کړ
د پردو خدمت لپاره، لا لګیا دی په ویجاړې

لـه ایرانـه بادشـاهي کـړي، دا پـه چـا حکمرانـي کـړي؟
زه حیران یم دې وقار تـه، چـې دا څـومره رسـوایي کـړي
د پردیـــو هر کلـــي تـــه، غیـــرې پرانیـــزي پـــه ویـــاړي.

افغانان یې در په در کړل، په خپل منځ کې یې په جـنګ کـړل
زوی یې پلار سره دښمن کړ، ورور یې ورور سره په جـنګ کـړ
دوی یې واچول په جنګ کې، دی پـه دغـه لوړتیـا ویـاړي

زمونږ ښکلې درندې خوښدې، هرې خـوا تـه وهـي منـډې
اولادونه ترې نه ورک دي، خوښدې، مښدې وهـي ټنـډې
د افغـان تـاریخ یـې سـپک کـړ، لا روان دی پـه دې لارې

کتابونه یې ټول لوټ کړل، کلتوري میـراث یـې غـرق کـړ
خپل ولس یې اوس مجبوره، هم د غرب او هم د شـرق کـړ
خپل فرهنګ یې په اور وسو، اوس د بل په فرهنګ ویـاړي.

افغانان یې ټول بـدنام کـړل، اتـلان یـې خـوار و زار کـړل
هېوادوال یې په ډېر ظلم، په سره اور کـې ورګـوزار کـړل
د اسـیا زړه یـې سـوری کـړ، اوس وهـي د وینـو داړې.

۷/۱/۱۹۹۸_ هالنډ

مخ یې تور کړې

ننني او پرونـي چـې قـاتلان دي، مـخ یـې تـور کـړې
د هر چـا چـې ګوډاګیـان دي، مـخ یـې تـورې کـړې

چـا چـې خـپلې ملـي ګټې لـه پـردو نـه قربـان کـړي
داسې خلق که د جهان نابغه ګان دي، مخ یې تور کـړې

چا چې بل د خوشالۍ لپاره خپـل خـور، ورور وژلـي
غلامان کـه د نـړۍ قهرمانـان دي، مـخ یـې تـور کـړې

چا چې خپل خلک په وینو کې غوپه او لمبولي
ورور او پلار کـه غـدران دي، مـخ یـې تـور کـړې

چا چې وجدانونـه د پردیـو پـه دوسـتۍ کـې سـنجولي
هغه ټول د شاه شجاع اندیوالان دي، مخ یې تـور کـړې

چا چې خپل هېواد ته بروجردي او سـړې لښکـرې راوسـتلي
خپل هېواد ته دواړه ډلې خاښنان دي، مخ یې تور کـړې

چا چې په خپل منځ کې شیرین وروڼه اچولي جنګـولي
بې له شکه د پردیو جاسوسـان دي، مـخ یـې تـور کـړې

چا چې خپـل هېـواد تـه ویجـاړۍ او بربـادۍ وراړولـي
ډېـر بـې شـرمه مـزدوران دي، مـخ یـې تـور کـړې

چا چې څنګ کې توره، پـه خولـه بنـې خبـرې کـړي
بـې وجدانـه چلبـازان دي، مـخ یـې تـور کـړې

چا چې خپل وګړي د درواغـو پـه کیسـیو دوکـه کـړي
ټـول پـه دوه توتـه ارزان دي، مـخ یـې تـور کـړې

چا چې خپل سیالان د پنجابیـانو پـه کومـک راپرځـولي
بـې همتـه سیاسـي امـاتوران دي، مـخ یـې تـور کـړې

چا چې خپلـو ورنـو مـنځ کـې د ملیـت خبـرې کـړي
حمیدي ګوته په غاښ ورته حیران دی، مخ یـې تـور کـړې.

مـــه ولئ

مـــه ولـــئ ظـــالمو کابـــل ښـــار پـــه توپـــو مـــه ولـــئ
دا زمـــور د پـــلار نیکـــه وقـــار پـــه توپـــو مـــه ولـــئ

دلتـــه مـــو نیکونـــو پـــه پـــرنګ بانـــدې دنګلـــي دي
دلتـــه پیرنګیـــانو هســـت و بـــود دواړه بـــاهللي دي
دلتـــه دښمنـــان پـــه ســـرو لمبـــو کـــې ســـوځېدلي دي
دلتـــه مېکنـــاټن پـــه خپلـــو وینـــو کـــې لمبلـــي دي
دلتـــه ســـرې لښکـــرې پـــه وچ زور بانـــدې وتلـــي دي
ټول هېواد یې خوشې کړ ټیټ سر له دي ځای تللـي دي

مـــه ولـــئ خـــاښو چهلســـتون پـــه توپـــو مـــه ولـــئ
دا د علـــم ځالـــه پوهنتـــون پـــه توپـــو مـــه ولـــئ

تاســود مسکو پــه پښــو ورونــه يــو تــر بلــه اچــولي دي
نــور مــو لــه روســانو ســره اړيکــونې غنــدلي دي
تاســو پــه جګــړو کــې پــه مليونــو خلــک وژلــي دي
تاســو د اســلام پــه پلمــه خوښــدې کونــډې کــړي دي
تاســو خپــل ملــت تــه د غــزا خبــرې کــړي دي
دوی پــه دغــه لاره کــې لــه ســر ځينــې تېــر شــوي دي

مــه ولــئ ظــالمو دارالامــان پــه توپــو مــه ولــئ
دا د قهرمــان غــازي ارمــان پــه توپــو مــه ولــئ

تاســو د تکبيــر پــه نــاره خلــک راپــارولي دي
دوی د زړه لــه کــومې پــه دښمــن باانــدې ترپللــي دي
تاســو د مــذهب او اخــوت خبــرې کــړي دي
ډېــر خلــک مــو د کفــر پــه بهانــه باانــدې وژلــي دي
تاســو د جومــات د فضــيلت خبــرې کــړي دي
نور خلک مو خپل وعظ باانــدې دې کــار تــه رابللــي دي

فرش مو ترې ټول کړی، بس جومات پــه توپــو مــه ولــئ
دا عبــادت ځــای د صــلوات پــه توپــو مــه ولــئ

دلتـه مـو پلرونـه څـنګ پـه څنـک سـره اوسـېدلي دي
دلته ټول د یو، بـل غـم ښـادۍ کـې شـریک شـوي دي
څوک چې دې هېواد کې په بد نیت راپورتـه شـوي دي
خپل سـر یـې خـوړلی دی د ګـور پـه لـوري تللـي دي
څوک چې د بل چـا پـه زور پـه مـور راتپـل شـوي دي
تـاریخ یـې مـخ تـور کـړی پـه راغلـې لاره تللـي دي

مـه ولـئ لاسـپوڅو زمـور کابـل پـه توپـو مـه ولـئ
دغـه د ملالـې تـور وربـل پـه توپـو مـه ولـئ

څوک چې ځان اسمان ګڼي په خپل زور غولېـدلي دي
ډېـر زر بـه راپرېـوځي دلتـه ډېـر پـه ګونـډو شـوي دي
چا چې زمـور مـنځ کـې شـر پسـات راپورتـه کـړی دی
ډېـر زر د خپـل اور بلـو لمبـو کـې سـوځېدلي دي
چـا چـې زمـور هېـواد تـه پـه کـاږه نظـر کتلـي دي
دلته اکبر خان، ایـوب خـان سـترګې تـرې ایستلي دي

دغـه د جرګـو، مرکـو کـور پـه توپـو مـه ولـئ
دا د میرویس خان، احمد خان ګـور پـه توپـو مـه ولـئ

ړنګ شوی

چـــې مـــو خـــاپوړې او خوښـــۍ پکـــې کـــړې
زمـــوږ د هیلـــو ســـتر جهـــان ړنـــګ شـــوی

چـــې مـــو زانګـــو د تمـــدن او پـــرمختګ بللـــه
هغـــه ځـــابـــل د ســـتر افغـــان ړنـــګ شـــوی

چـــې مـــو مېلـــې او ســـاتېرۍ پکـــې کـــړې
د افغانســـتان زړګـــی پغمـــان ړنـــګ شـــوی

چـــې مـــو جـــرګې او مـــرکې پکـــې کـــړې
د اولســـي جـــرګې دالان ړنـــګ شـــوی

چې مو مشرانو ډېرې ستړې فیصلې پکې کړې
د ســـتر داوي صـــاحب مکـــان ړنـــګ شـــوی

چـــې مـــو مېلـــې د ارغـــوان پکـــې کـــړې
د ګـــل غونـــډۍ ښکلـــی بوســـتان ړنـــګ شـــوی

چـــې مـــو مېلـــې د غـــاړې ګـــل پکـــې کـــړې
د مـــاهي دښـــتې ســـور دامـــان ړنـــګ شـــوی

چې مو د شل ډوله انګور مزې چړچې پکې کړې
هغـــه تـــک شـــین ښکلـــی پـــروان ړنـــګ شـــوی

چې مو هر کال د نارنج ګل مشاعرې پکې کړې
د ګلـــو هـــار د لـــوی افغـــان ړنـــګ شـــوی

چې مو هر کال د مهترلام بابا مېلې پکې کړې
د ســـراج بـــن د ســـتر افغـــان ړنـــګ شـــوی

چـې مـو د ګلـو او بلبلـو تماشـې پکـې کـړې
کارېزمیر په ګلو پـټ سـور ګلسـتان ړنـګ شـوی

چـې مـو د لمـر د راختلـو ننـدارې پکـې کـړې
د اســـتالف شـــین باغســـتان ړنـــګ شـــوی

چې مو بتانو د ځندېن تـاریخ کیسـې پکـې کـړې
د بنـــد امیـــر تـــرځنګ بامیـــان ړنـــګ شـــوی.

۸/۳/۱۹۹۸، هالنډ

مـــــوړي

زمـــا درنـــې او قـــدرمنې مـــــوړي
ډېـــرې خـــوږې او عـــزتمنې مـــوړي

ســـتا لـــور مقـــام تـــه ســـلامونه کـــوم
ډېـــر درنـــاوی احترامونـــه کـــوم
لاس پـــه نامـــه درتـــه ســـوالونه کـــوم
جنـت دې ځـای شـه ای پتمـنې مـوړي.

ســـتا زحمتونـــه هېرولـــی نـــه شـــم
ســـتا خواخـــوږي بیـــانولی نـــه شـــم
داســـې جملـــې پیـــدا کـــولی نـــه شـــم
چـــې تـــا پـــرې وســـتایم دردمـــنې مـــوړي

تـــا بـــه پـــه ســـرو غرمـــو لوونـــه کـــول
مـــا پـــه ســـړو ســـيورو خوبونـــه کـــول
لا بـــه مـــې تـــا باانـــدې نازونـــه کـــول
خـــو تـــا خنـــدل راتـــه ويـــاړمنې مـــورې

يـــو او بـــل خـــوا تـــه ســـر ګردانه بـــه وې
پـــه کـــار لګيـــا ســـټړې ســـتومانه بـــه وې
زمـــا صـــحت تـــه پريشـــانه بـــه وې
ډيـــر دې ژړلـــي اى خـــوږمنې مـــورې

ســـتا محبـــت مـــورې زړښـــت نـــه لـــري
د تـــا غوســـه مـــورې پايښـــت نـــه لـــري
اولاد پالنـــه دې مړښـــت نـــه لـــري
هيـــرې بـــه نـــه کـــړم ســـتا ښېګڼې مـــورې

د تـــا ښېګـــنې د شـــمېرلو نـــه دي
د اســـمان ســـتوري د ګڼلـــو نـــه دي
د تـــا کيســـې د هيرولـــو نـــه دي
چـــې نـــازولم دې هـــوډمنې مـــورې

جنـــت دی ســـتا تـــر قـــدمونو لانـــدې
بر کـــــت ســـــتا هـــــدایتونو لانـــــدې
ښـپـــراز ژونـــدون ســـتا منتونـــو لانـــدې
ځکـــه لـــه تـــا کـــوم منـــنې مـــورې

ای د ګرانښـــت او ســـپېځلتیا پـــرېښتې
د ماشـــــومانو لومړنـــــۍ مدرســـــې
چې خـوروې هـر خـوا د سـولې وړمـې
نـــه مـــې هېرېـــږې پـــاکلمنې مـــورې

نه دې سیال شـته نـه نظیـر پـه دې جهـان
لکـــه ســـپوږمۍ بـــه ځلېـــدې پـــه اســـمان
ســـتا بچـــو بانـــدې ویاړېـــږي افغانـــان
تـل بـه سـتایل شـې زمـا ډاډمـنې مـورې

میرویس، احمـد، ایـوب خـان تـا روزلـي
مورنـــۍ غېـــرۍ کـــې دې ښـــه پـــاللي
د ګـران هېـواد خـدمت تـه تـا روزلـي
ســـرټیټوم پـــه نـــنګ مېـــنې مـــورې

ښـــکلا ته

د ښکـلا رنګـین وزرونـه، د نـړۍ پـر مـخ خپـاره دي
په هر ښار، هره کوڅه کې، په هر زړه کې مېلمانـه دي

د زړو ځوانو غورځنګ یې، په خپل ځان پسې روان کـړ
د فرهنګ سرغندویي کړي، د تکل په لـور یـې تلـه دي

له کـړو وړو یـې داسـې ښکـاري، د هېـواد ابـادي غـواړي
اغیار سترګې پرې ړندې کړې، څومره ښکلي پښتانه دي

احمـد شـاه بابـا لمسـیانو، افـرین دې وي پـر تاسـو
لیکوالان مو راټول کـړي، د ښکـلا غېږ کـې پراتـه دي

شاباس خیر اوسئ ځوانانو، په خپل ځان باندې تکیه شئ هغه ټول زلمي راویښ کړئ، چې غفلت په خوب ویده وي

د یووالي روح ژوندی کړئ، لـره، بـره پښتونخـوا کـې ځانځاني چې ده کوم قام کې، ټپ په دوو سترګو ړانـده دي

تاســو غــوره لار نیــولې، حمیــدي پــه زغــرده وایــي چې ګډون نه کړي ښکلا کې، د پښتو په څلي پـړه دي.

پسرلیه

راشـــه پســـرلیه پـــه مـــور وشـــینده ګلونـــه
دومره کړاو بس دی نور په مور مه کړه ظلمونـه

راشـه پسـرلیه پـه مـور هـم وکـړه رحمونـه
دا تـورې کښـې دې نـوره وباسـه لـه زړه نـه

نور خلک خندېږي خوشـالي کـړي هوسـونه
ډېره موده کېږي زمور پـه برخـه دي ویرونـه

ټوله نړۍ ګـل ده خوشـحالي وهـي موجونـه
دا څومره بدمرغي ده په مـورِ اوري راکټونـه

راشـــه پســـرليه پـــه لېمـــو دې قدمونـــه
د سولې پسرلی شـې برکـت دې شـه ګامونـه

راشـــه پســـرليه زمـــورِ بـــل کـــړه مشـــالونه
هره خوا رڼـا ده پـه مـورِ پلـن دي تورتمونـه.

کـــاشکې

سیاســت کــې ســپېځلتیا او حقیقــت وای
نـــه کـــنځلې نـــه درواغ منافقـــت وای

په موټرو او چوکۍ باندې جـنګ نـه وای
نه خپګان نه پـس پسـی او نـه غېبـت وای

د وطــن د سمســورتیا مینــه لومــړی وای
سیاســي مــداریان نــه وای لیاقــت وای

پت عزت پکې خوندي د ټـول ولـس وای
نه خادست، نه کې جي بي، نه بربریـت وای

نـه پلمـي، نـه دسیسـې او نـه نفـرت وای
یــو تــر بلــه همکــاري قــدر و عــزت ای

وروروڼـــي، برابـــري، مهربـــاني وای
پـــه ازاده ژونـــد کـــول د بشـــريت وای

نـــه ټګـــي نـــه غلامـــي نـــه چـــالاکي وای
په خپل منځ کې يـــو تـــر بلـــه شـــرافت وای

نه لاسپوڅي جاسوسان د بـل هېـواد وای
نه خاېن او نـه د بـل پـه پيسـو مسـت وای

نـــه ټانکونـــه، طيـــارې او نـــه ټوپـــک وای
نـــه کورونـــه چـــورول، نـــه غنيمـــت وای

نه زنـدان، نـه زولـنې، نـه ځـورول وای
نـــه د يـــوه بـــل اچـــول او رقابـــت وای

نـــه غمونـــه، فريادونـــه، نـــه وژل وای
نـــه ښارونـــه ورانـــول نـــه خيانـــت وای

یـــو پـــر بـــل د توغنـــدیو بـــاران نـــه وای
خپـــل هېـــواد ابـــادول ســـتر انســـانیت وای

نه وهل، بنـدي کـول، نـه سـپکول وای
څـــارنوال او قاضـــي دواړه د ملـــت وای

نه برقونه، نـه ډنـډې، نـه سـر وهـل وای
د وطـــن مینـــه معیـــار د لـــوړ همـــت وای

نـــه نفـــاق، نـــه د قومونـــو لمســـول وای
اتحـــاد او ورورولـــي مینـــه الفـــت وای

د خوښیـــو کاروانونـــه پکـــې روان وای
هـــرې خـــوا تـــه فـــابریکې او نظافـــت وای

چې ملي احساس له هرڅه نه اوچـت وای
دغه شاني زمـوږ کـټ مـټ سیاسـت وای

حق وهل خيانـت نـه وای، هڅـول وای
خپـل ګنـاه پټـول نـه وای شـجاعت وای

د ولـس دود او دسـتور تـه احتـرام وای
قوم پالنه لوی همت نـنګ او غېـرت وای

وسـيله د لـوړ مقـام پوهـه کمـال وای
ظلم نه وای خپل اختیار خپل حاکمیت وای

ټـول کارونـه پـه علمـي منطـق ولاړ وای
ټولـو چـارو کـي جـرأت او عـدالت وای

يو د بل ترمنځ سيالي وطـن خـدمت وای
د قومو ترمنځ وروري ملـي وحـدت وای

د جوړښت او د ټوټـه ټـوټـه کېنـوی نـه وای
په هر کار کي وحدانې بنـه قضـاوت وای

خان ستاپل، د بل غمدل شرم او عـار وای
نه چې خپل کار باندې بل څوک ملامت وای

نه ظالم او نـه جـابر، نـه غـوړه مـال وای
زمونږ هېواد کې دغـه رنګـه زعامـت وای

روغـه، جـوړه د قومـو تـرمنځ شـعار وای
اوس به زمونږ تر اسمانه سـر اوچـت وای

لاربشود هغه چې زخمي زړونو درمل وای
عاطفـــه مهربـــاني لـــونږ صـــداقت وای

باوفـــاره بـــا وجدانـــه رهبـــران وای
سیاست کـې پـت عـزت او فضیلت وای

۲۷/۴ ۱۹۹۶

انځورونه



شېرشاه حميدي، پاڅون حميدي او درمل حميدي

زرين انځور

پوهنمل رحمت گل خواکمن

ډاکتر خوشال روهي

نظيف تكل

بسم الله اكبري

شاغلی نجیب احمدزی بیلال خپل په اروپا کې د افغاني
کولتوري ټولنو د ګډې جرګې پیغام لولي

عبدالواحد نظري

اجمل روهي

افضل تكور

محمدا جان یار

د غونډې یوه څنډه

د سیمینار یوه څنډه

محمد علي هوما

ناست: شاغلی عاشق غریب
او د ارواښاد حمیدي درې واړه زامن
شېر شاه حمیدي، پاځون حمیدي او درمل حمیدي

ښاغلی شېرشاه حميدي له برخه والو مننه کوي

ارواښاد میرزا علم حمیدي

ښاغلی مېرزا علم حمیدي د عبدالحمید زوی د ۱۳۲۰ لمریز کال د زمري د میاشتي پر شلمه نېټه د خوست ولایت د اسمعیل خېلو قوم د ډډوالو په کلي کې زیږېدلی دی.

لومړۍ زده کړې یې په ۱۳۳۳ کال کې د اسمعیل خېلو او مندوزیو په ښوونځي کې بشپړې کړې دي او د لوړو زده کړو لپاره کورنۍ ستونزو ورسره یاري نه ده کړې خو د کار پر مهال یې د هغه وخت د عصري ډبل انټري سیستم د عمومي محاسبې او اداري (Double entry general Accounting and Management) اتلس میاشتنی کورس په لشکرګاه کې لوستی دی او همدارنګه یې دوه ځلې په محاسبوي سیستم کې د نویو بدلونونو د زده کړې درې میاشتني کورسونه هم پای ته رسولي دي.

ښاغلی حمیدي د سوداګرۍ وزارت تر رتبې هسک (فوق رتبه) مامورو چې له خپل هیواد څخه تښتي ته اړ شو او اوس په هالېنډ کې د پردسۍ شپې سبا کوي.

د مېرزا علم حمیدي تر سره کړي دندې، وختونه او ځایونه یې:

-۱ سرطان ۱۳۳۵ - ثور ۱۳۴۲ د هلمند په لوی ریاست کې د افغاني ساختماني دستګاه ((محاسب))

-۲ جوزا ۱۳۴۲ - جدي ۱۳۵۲ په مالیې وزارت پورې اړوند د خیبر رستورانټ ((د محاسبې مدیر))

-۳ دلو ۱۳۵۲ - حوت ۱۳۵۳ په فواید عامې وزارت رر په ایټالوي Sauti کمپنۍ کې چې د ایران سرحد اودیشو ترمنځ یې د اورګادي پټلۍ سروې کوله او دلارو ـ ډګرونو د لوی ریاست تر اداري لاندې یې کار کاوه ((د حسابې او اداري چارو امر))

-۴ حمل ۱۳۵۴ - ثور ۱۳۵۷ په ایټالوي شخصي شرکت (د کلیمه شرکت) ((د محاسبې مدیر))

-۵ ثور ۱۳۵۷ - قوس ۱۳۵۷ په مالیې وزارت پورې اړوند د هوټلونو تصدۍ ((لوی رئیس))

-۶ جدي ۱۳۵۷ - حوت ۱۳۵۹ په سوداګري وزارت رر رد کړهنې صنایعو د پراختیا مرکز چې د جهاني بانک په پیسو او متخصصانو چلیده ((د حسابي او اداري چارو امر))

-۷ حمل ۱۳۶۰ - میزان ۱۳۶۲ په سوداګري وزارت رر رد لاسي صنایعو د پراختیا او د صادراتو مرکز ((رئیس))

-۸ عقرب ۱۳۶۲ - قوس ۱۳۶۸ په سوداګري وزارت رر د افغان نیچي په نوم د افغانستان-چاپان تجارتي شرکت ((رئیس))

-۹ جدي ۱۳۶۸ - حوت ۱۳۶۸ په سوداګري وزارت رر رد کورنۍ سوداګري « رئیس »

-۱۰ حمل ۱۳۶۹ - جدي ۱۳۷۱ په سوداګري وزارت رر رد اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونو د ننداره ټون « رئیس »

نباغلي حمیدي د تجارتي چارو د پرمختیا او پراختیا لپاره هندوستان ، پاکستان، روسیې، اذربایجان، منګولیا، بلغاریا، چکوسلواکیه، هنګري، انګلیستان، فرانسې، خټیځ او لویدیځ المان او اووه ځلې جاپان ته رسمي سفرونه کړي دي.

خولکه څنګه چې وایې: «ځواني د زده کړو موسم دی . منځنی عمر د وړاند . هوښیاري او پوخ والي دوران دی. له دواړو تېرو موسمونو څخه د تجربو لاس ته راوړل د ژوند دریم پړاو دی. خو وړاند . هوښیاري او تجربې تر زده کړې اړینې او ارزښتناکې دي. همدا رنګه د حمیدي صاحب بل تلپاتې اړخ هم دده ادبي هلې ځلې دي ؛ لکه چې له دندو او زده کړو ېې ښکاري که څه هم ده ادبیات نه دي لوستي خو تر کومه چې ښکاره ده نوموړي له څلویښتمو کلونو راهیسې د هیواد په مطبوعاتو کې وخت په وخت خپلې لیکنې خپرې کړې دي ؛ دده ځینې سیاسي لیکنې د ډډوال. ښکارندوی او کلیوال په مستعارونو مونوهم خپرې شوي دي او کله کله یې یو نیم شعرهم لیکلی او خپور شوی دی خو حمیدي صاحب د پښتو ادبي نثر په وده او بډایي کې ډیره سترې او ارزښتناکه برخه تر سره کړې ده چې تر اوسه یې پنځلس غوره اثار د سړي لار. ژوبن. د ټوکو خورجین. وری څنګه لېوه شو؟. بختوره پېښو. دوه مخې کسان. ژوري خبرې. د بریالیتوب لار. د زړې ادې کیسې. د کاڼي زړونه. د ملانصرالدین کچکول. چلباز. بدمرغه ټپو. د بري راز. څو سیاسي خبرې او د افغانستان ودانول) چاپ او خپاره شوي دي خو نوموړی لا تر اوسه هم څن لیکوال او شاعر نه بولي وایې چې « زه یوازې په لیکوالو

او شاعرانو پسې اوږې تولوم« .

نوموړې د خپلو لیکنو او ژباړو« دخوړه یاد» په هکله وایي چې : « د جورج اروېل نامتو نړیوال اثر (Animal Farm) مې چې په کمونیستي دیکتاتوري پورې یې ملنډې وهلې دي او د دوی تګې . برګې یې ډیرې ښې راسپړلې او په ګوته کړې دي او کټ مټ هماغسې وشول چې جورج اروېل یې په ۱۹۴۵ز کال کې وړاند وینه کړې وه ؛ پر افغانستان باندې د شوروي برغل پر مهال د «ژوبڼ» په نوم و ژباړه او د ۱۳۲۷ په پسرلي کې مې په خپل خانګړي لګښت چاپ او خپور کړ چې نه یوازې یې د هیواد پالوفرهنګیانو او لوستونکو له خوا داسې تود هرکل وشو چې مایې فکر هم نه و کړی بلکې د هغه مهال د لیکوالو اتحادیې رئیس وتلی او نامتو لیکوال رهنورد زریاب او همدا رنګه د پېژندل شوي نامتو شاعر واصف باختري په مشرۍ یوه ډله فرهنګیان زما کور ته د مبارکۍ او شاباسي لپاره راغلل چې د دوی دغه هڅونه مې تر اوسه هم « د خوړه یاد» په توګه د زړه په تل کې ځای لري« .

د اروانباد حمیدي چاپ شوي اثار:

۱ _ د سړي لار ۱۳۵۷
۲ _ ژوبڼ ۱۳۶۸
۳ _ د تو کو خورجین ۱۳۷۰
۴ _ وری څنګه لېوه شو؟ ۱۳۷۴
۵ _ بختوره پېښو ۱۳۷۴
۶ _ دوه مخې کسان ۱۳۷۵
۷ _ ژوړې خبرې ۱۳۷۵
۸ _ د بریالیتوب لار . ۱۳۷۸
۹ _ د زړې ادې کیسې ۱۳۸۰
۱۰ _ د کانیو زړونه ۱۳۸۰
۱۱ _ د ملا نصرالدین کچکول ۱۳۸۱
۱۲ _ چلبلز ۱۳۸۲
۱۳ _ بد مرغه تاپو ۱۳۸۲
۱۴ _ د بري راز ۱۳۸۳
۱۵ _ څو سیاسي خبرې او د افغانستان رغونه (دغه کتاب د چاپ پر لاره دی).

PROPERTY OF ACKU 16135

ACKU
B
1.237
ZWA
16135

In Memory of Hamidi

Collection of articles

د اروښاد مېرزا علم حميدي مزار

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني
VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V
د خپرونو لړ (۸۴)